
د کتاب پېل د کتاب پېژندنه د کتاب لړلیک د لیکوال پېژندګلوي چاپــول لراو بر افغانستان-ویبپاڼــه وتــل

د کتاب پېل

# سپېڅلي ورځې

Download from:aghalibrary.com




Download from:aghalibrary.com




## د کتاب پېژندنه :

---


د کتاب نوم : سپېڅلي ورځې

ليکوال : مولوي عبدالهادي حماد

کمپوز : مولوي عبدالهادي حماد

چاپ چاري : دانش مطبعه - پېښور

چاپي لګښت : دليکوال لخوا

اړيکي : ۰۰۹۳-۷۰۰۳۰۸۹۲۹ , ۰۰۹۳-۷۰۷۷۲۵۵۶۴

دچاپ شمېر : ۱۰۰۰ ټوکه

انلاين چاري : مختار احمد احسان - لر او بر افغانستان

http://www.larawbar.com

لر او بر افغانستان
www.larawbar.com

---

## لړلیک:


1. پنځلسی ----------------------------------------------------
2. دروژی میاشت ----------------------------------------------
3. دقدرشپه --------------------------------------------------
4. دکوچنی اخترورځ -------------------------------------------
5. دلوی اختر دمیاشتی لومړی لس ورځی ------------------------
6. دکوچني اختر دمياشتي شپږ ورځي روژه ------------------------
7. ددوشنبې او پنځشنبې روژه ----------------------------------
8. ايام البيض[دهري مياشتي د (۱۳، ۱۴، ۱۵) روژه] ----------------
9. دلوي اختردمياشتي اولي لس ورځي ---------------------------
10. دحسن حسین دمیاشتی لومړی لس ورځی ------------------------
11. دمعراج قصه ------------------------------------------------
12. دجمعې ورځ -------------------------------------------------
13. دولسمه -----------------------------------------------------
14. درسول الله r پيدائينت ----------------------------------------
15. درسول الله r وسلم وفات -----------------------------------------
16. مآخذونه ----------------------------------------------------


---

بسم الله الرحمن الرحيم

Ï“ ¡ ¬ #$:$#¡©%ß‰ôJptø جَعَلَ اللَيْلَ لِبَاسًا ،وَجَعَلَ النَهَارَ مَعَاشًاوَالصَلاةُ وَالسَلامُ عَلَي مُحَمَدٍ وَآلِه وَصَحْبِه كَثِيْرًا .

دبرات میاشت او ینځلسی

څرنګه چي اللهY په خپل حکمت سره دانسانانو دهوسایی په موخه ډول ډول بدلونونه په وختونو کښی راولی ،ددې ترڅنګ اللهY په خپله پیرزوینه و محمد یامت ته داسی وختونه ور په برخه کړی دي چي نورامتونه ځنی بي برخي وه چي په لنډ وخت کي د ډیرو لاسته راوړونو څخه برخمن دی چي لومړي به یې ینځلسی تر بحث لاندی ونیسو.

ینځلسی هغه مبارکه شپه ده چي اللهY د برات په میاشت کښی پیدا کړي ده دغه میاشت رسول الله r ته ډیره محبوبه وه ځکه بي بي عایشة صدیقه (رضی الله عنها) فرمایی چي رسول الله r ته تر ټولو میاشتو دبرات میاشت ډیره محبوبه وه .[١]

درسول اللهr حدیث دی چي که څوك ددغه میاشتی په لومړۍ شپه کښی دولس رکعته لمونځ وکړی په لومړی رکعت کښی یوځل الحمد لله اوپنځه ځله قل هو الله ووایی اللهY به د دولسو شهیدانو ثواب ور په برخه کړی، او اللهY به د دوولسو کالودعبادت ثواب ورته ولیکی، اللهY به یې دپیدا ینبت دورځي په څیر دګناهونو څخه پاك کړی ،اوالله جل جلاله به یې تر اتیا کالو پوری دګناه دلیکنی څخه خلاص کړی .[٢]

درسول اللهr څخه روایت دي چي څوك د برات دمیاشتي په اوله او اخره پنچشبه روژه ونیسی دده به پرالله Y داحق وی چي جنت ته به یی داخل کړی [٣]

رسول اللهr فرمایي دبرات میاشت د دوزخ څخه ساتنه ده که څوك غواړی چي زما سره ملاقات وکړی په دغه میاشت کښی دی روژې ونیسی که څه هم درې ورځی وي [٤].

دحضرت اسامه بن زیدy څخه روایت د ی : دی مبارك وایی چي ما رسول اللهr ته وویل : یا رسول الله ! ته چي په برات کښي روژی نیسي ایا دفرضی میاشتي دروژې پرته په نورو میاشتو کښي داسي درنښت ویني ؟ رسول اللهr په جواب

کښی وفرمایل : برات یوه داسي میاشت ده چي خلګ ځني غافله دی دامیاشت د خداي تعالی اودروژې دمیاشتي ترمنځ ده په دې میاشت کښی دخلګو عملونه پورته کیږی نو زه داخوښوم چې زما عمل په داسی حال کښی پورته سی چي زه روژاتی یم .[۵]

دحضرت انسy څخه روایت دی : دی مبارك فرمایی چي درسول اللهr څخه دښه ثواب لرونکی روژې سوال وسو رسول اللهr په جواب کښی دبرات روژې وښودلی چي دا دارزښتمني میاشتی روژی دي .[۶]

دحضرت انسy څخه روایت دی : دی مبارك فرمایی چي رسول اللهr وفرمایل : دروژی دمیاشتی لپاره دبرات دمیاشتی په روژه سره خپل بدنونه وساتی. هربنده چي پدې میاشت کي درې روژې ونیسي اوتر روژه مات وړاندی پرماباندي درود ووايی اللهY به د هغه ټولو ګناهونو بخښنه ورته وکړی چي ده مخکی کړی دی او په رزق کي به یې برکت ور واچوی .

او جبرئیل (علیه السلام) ماته خبر راکړی چي په دغه میاشت کښی الله Y درحمت درې سوه دروازې خلاصوی[۷]

دحضرت رسول اکرم r څخه روایت دي: دی مبارك فرمایی : دخداي تعالی میاشت پرنورو میاشتو دومری بهتره ده لکه قرآن چي پر نور کلام بهتر دی ، د برات میاشت پر نورو میاشتو دومره بهتره ده لکه زه چي پر نورو انبیاؤ بهتر یم او دروژې میاشت پر نورو میاشتو دومره بهتره ده لکه الله Y چي پر نور مخلوق باندی بهتر دی .[۸]

په یو بل حدیث کښی رسول اکرم r فرمایی : که چا یوه ورځ د برات دمیاشتی روژه ونیول الله Y به دده پر بدن د دوزخ اورحرام کړی ،په جنت کښی به دحضرت یوسف علیه السلام ملګری وی ، اللهY به دحضرت ایوب علیه السلام اود حضرت داود علیه السلام ثواب ورکړی . که چا د برات ټوله میاشت روژه ونیول الله جل جلاله به د ځنکندن خواری پرې اسانه کړی ، د قبر تیارې او دنکیر منکر ملائکو ویره به اللهY ځنی لری کړی ، او دقیامت په ورځ به یې اللهY عورت ورمستورکړی .[۹]

حضرت عائشة (رضي الله عنها) فرمايي : چي رسول اللهr به په هیڅ میاشت کي

دومره روژې نه نیولي لکه دبرات په میاشت کي بلکي دغه میاشت به یې ټوله روژه نیول .[۱۰]

حضرت ابوهریرهy درسول الله r څخه روایت کوی چي رسول اللهr وفرمایل : دبرات پرپنځلسمه ( پنځلسي ) جبرئیل علیه السلام راته راغلی راته وی ویل اسمان ته سرپورته کړه ماورته وویل دا کومه شپه ده؟ جبرئیل علیه السلام وویل په دې شپه کښی اللهY درې سوه دروازی درحمت خلاصوی اللهY په دې شپه ټولو ته دګناه بخښنه کوی مګر وجادو ګر ، تل زنا کونکي او دشرابو چیښونکي ته بخښنه نکوی [۱۱].

نزهة المجالس په صفحه ۱۶۴ جلد ۱ کښی دکتاب البرکة په حواله لیکی چي پیرانان ، مرغان ، وحشی حیوانان او ماهیان په دریاب کښی دپنځلسي په ورځ روژه نیسی .

درسول اللهr څخه روایت دی چي فرمایی : تاسو دپنځلسی په شپه عبادت وکړي اوپه ورځ یې روژه ونیسی ځکه اللهY په دغه شپه دخپلو بندګانو څخه غوښتنه کوی او وایی : ایا یو ځوك دمغفرت غوښتونکی سته چي زه مغفرت ورته وکړم ؟ ایا یو ځوك په ګناه اخته سته چي زه عفوه ورته وکړم ؟ ایا یو ځوك درزق غوښتونکی سته چي زه رزق ورکړم ، رسول اللهr فرمایی : اللهY نوموړي وینا ترسپیدو پوری کوی .[۱۲]

رسول اکرمr فرمایی : که ځوك داختر او دپنځلسي شپې په عبادت روڼی کړی زړه به یې په هغه ورځ مړنسی چي زړونه مری .[۱۳]

حضرت جبرئیل (علیه السلام) دپنځلسي په شپه رسول اللهr ته راغلي ورته وی ویل : یامحمدr ! پدې شپه کښی دتهجد لمونځ وکړه په دې شپه کښی دشک پرته حاجت پوره کیږی رسول اللهr دتهجد لمونځ وکړی .[۱۴]

جبرئیل علیه السلام دویم ځل بیا راغلی و رته وی ویل : یامحمدr ! خپل امت ته زیری ورکړه چې اللهY په دې شپه کښی ستا ټول امت ته بخښنه کوی .

مګر هغه ځوك چی دااللهY سره په یو شی سره شریك نیسی . بیا یې ورته وویل سر پورته کړه رسول اللهr چي سر پورته کړی دا سمان دروازې خلاصی وی پر اوله دروازه یوه ملایکه ولاړه وه داسي یې ویل : خوشالی اومبارکی دی وی

هغه چا لره چي په دغه شپه کښی رکوع کوی ، پردوهمه دروازه یوه بله ملائکه ولاړه وه داسي يې ويل : خوشالي اومبارکی دی وی هغه چا لره چي په دغه شپه کښی سجده کوی ،پردریمه دروازه یوه بله ملائکه ولاړه وه داسي يې ويل خوشالي اومبارکی دی هغه چالره چه په دغه شپه کښی دعا کوی ، پرڅلورمه دروازه یوه بله ملائکه ولاړه وه داسي يې ويل خوشالي اومبارکی دی وي هغه چا لره چي په دغه شپه کښی داللهY دویری څخه وژاړی ، پرپنځمه دروازه یوه بله ملائکه ولاړه وه داسي يی ويل خوشالي اومبارکی دی وی هغه چا لره چي په دغه شپه کښی دخیر کاروکړی ، پرشپږمه دروازه یوه بله ملائکه ولاړه وه داسي يې ويل : ایا یوڅوك سته چي دیو شی غوښتنه وکړی اللهY یی ورکړی ؟، پر اومه دروازه یوه بله ملائکه ولاړه وه داسي يې ويل : ایا یو څوك سته چي دخپلو ګناهونو بخښنه ووغواړی اللهY يې وربخښی؟، رسول اللهr فرمايی : ما جبرئیل علیه السلام ته وویل دا ملائکی ترڅه وخته دا ناری وهی ؟ جبرئیل علیه السلام راته وویل دسهار ترسپیدو پوری وي . وروسته رسول اللهr وفرمایل اللهY په دې شپه دومری خلګ د دوزخ څخه ازادوی لکه دبنی کلب قوم دپسونوویښتان د قبیلي

درسول الله صلي عليه وسلم په وخت کښی یو قوم وو ډیر پسونه اومالداری ئی درلودی . {١۵}

بي بي عائشة (رضي الله عنها) فرمايي : چي یوشپه رسول اللهr زماڅخه ورک سو ماچي وکتل رسول اللهr په یوه هدیره کي وو رسول اللهr راته وویل : ته پردې وېرېږي چي اللهY اورسول اللهr به پرماباندي ظلم وکړي ؟ ماورته وویل : زما دافکروو چي دبلي بي بي خوني ته ورغلی يي رسول اللهr راته وويل : اللهY دپنځلسی په شپه لومړی اسمان ته راکښته کيږي دکلب قوم دپسونو تروربښتانو زیاتوخلګوته بخښنه کوي .[١۶]

رسول اللهr بي بي عائشې (رضي الله عنها) ته وفرمايل : ته خبره يې چي دپنځلسی په شپه څه کيږي؟ بي بي عائشې (رضي الله عنها) وويل: (نه يمه خبره ) نو درسول اللهr څخه يې پوښتنه وکړه چي پدې شپه کي څه پېښيږي ؟ رسول اللهr وفرمايل: پدغه شپه کي ټول هغه کوچنيان ليکل کيږي چي په دغه

کال کي پيداکيږي اوټول هغه کسان ليکل کيږي چي پدغه کال کي مړه کيږي ،پدغه شپه کي دانسانانوعملونه پورته کيږي اوپدغه شپه کي دانسانانو رزقونه راکښته کيږي .(الحديث)[۱۷]
رسول اللهr فرمايي : دپنځلسی په شپه اللهY راکښته کيږي ټولوخلګوته بخښنه کوي (مګر دوو کسانوته مغفرت) نه کوي يوداللهY سره شريک نيونکی دوهم حسد(کينه)کونکی.[۱۸]

دروژې مياشت ( رمضان )
روژه چي داللهY لوی نعمت دی نه يوازی داخرت لپاره بلکی د صحت لپاره هم دروژې ګټې ثابتی سوی دی نوځکه اللهY يې په فرضيت پريکړه کړی ده اوفرمايی :
ygƒr'¯»tƒ tûïÏ%©!$# (#qãZtB#uä |=ÏGä. ãNà6ø‹n=tæ$ ãP$u‹Å_Á9$# $yJx. |=ÏGä. ’n?tã šúïÏ%©!$# `ÏB öNà6Î=ö7s% [öNä3ª=yès9 tbqà)Gs? ÇÊÑÌÈ [۱۹
ژباړه : اې هغه کسانو! چي ايمان مو راوړی دی پرتاسو روژه فرض سوی ده لکه چي فرض وه پرهغه کسانو چي مخکی ستاسو وه .
حضرت سلمان فارسیy فرمايلی دی : چي رسول اللهr دبرات دمياشتی په اخرکښي موږ ته داسی خطبه وويل :
اې خلګو! بېشکه پر تاسوباندي ډيره لويه مياشت راغله په دې مياشت کښي شب قدر دی چي تر زرو مياشتو بهتره دی اللهY يې روژه فرض کړی ده اودشپې عبادت يې نفل ګرځولی دی څوك چي په دې مياشت کښي يو فرض اداکړی په ثواب کښی دومره دی لکه مريی چي ازاد کړی اولکه په نورو مياشتو کښي چي اويا فرضه ادا کړی ، پدې مياشت کښي دمومن رزق زياتيږی ، که څوك يو چاته روژه مات ورکړی ثواب يې دومره دی لکه مريی چي ازاد کړی . دامياشت دصبر ده د صبر بدله جنت دی. اصحابو کرامو وويل : يارسول الله ! په موږ کښي مسکينان سته ټوله ددې توان نه لرو چي چاته روژه مات ورکړو رسول اللهr وفرمايل : اللهY دا ثواب هر هغه چاته ورکوي چي يو

چاته روژه مات ورکړی که څه هم يوه خرما ، يايو څاڅکی اوبه او يا يو څاڅکی شېدې وي پوره روژه مات حتمی ندی. دا داسی میاشت ده چې اول يې رحمت دی منځ يې مغفرت دی اواخر يې د دوزخ د اور څخه خلاصون دی که چاپدې میاشت کې پرخپل غلام باندې کارونه سپک کړه اللهY به بخښه ورته وکړي اوددوزخ داورڅخه به يې خلاص کړي. تاسوپدې میاشت کې څلور کارونه ډېرکوی په دغه څلورو کاروکي دوه داسې کارونه دي چې اللهY په راضي کیږي اودوه داسې کارونه دي چې تاسو چاره نه ځني لری هغه کارونه چې اللهY په راضي کیږي یودکلمې شریفي ډېر ویل دي دوهم دالله Y څخه بخښه غوښتل دي اوهغه کارونه چې تاسوچاره نه ځني لري يو ددوزخ څخه پناه غوښتل دي او بل دجنت غوښتل دي .په دغه میاشت کې چې چا روژاتي اوبه کړی اللهY به يې زمادحوض په اوبو اوبه کړي داسې به يې اوبه کړي چې ترهغه وخته به تږی نسي چې جنت ته داخلیږي .[٢٠]

دروژې په میاشت کښی د اللهY د خوشالۍ ترڅنګ داسی ګټی رانغښتی دی چې په نورو میاشتو کښی نسته ځکه رسول اللهr فرمایی : روژاتی لره دوی خوشالۍ دی یوه دروژمات په وخت کښی اوبله د رب تعالی سره دملاقات په وخت کښی . [٢١]

رسول اللهr فرمايي : اللهY زماامت ته پنځه داسې خويونه ورکړي دی چې نورو امتونو ته يې نه دي ورکړی (لومړی) دروژاتي دخولي بدبوی دی چې واللهY ته دمشکو تربوی خوښ دی (دوهم) داچې په درياب کې ماهيان دروژاتي لپاره دمغفرت دعاکوي ترهغه وخته پوري چې روژه ماتوي (دريم) داچې اللهY هره ورځ جنت ښائسته کوي اوبیاورته وایي : ژر دی چې زمابندګان به ددنیا تکلیفونه هیرکړي اوتاته به راسي (څلورم) داچې په دغه میاشت کې سرکشه شیطانان تړل کیږي دهغه بدو کارونو ولورته نسي رسیدلای کوم چې په نورو میاشتوکي يې کول (پنځم) داچې اللهY دروژې دمیاشتي په آخره شپه ټولو روژاتيانو ته بخښه کوي .یوچاپوښتنه وکړه چې ایا دغه دقدر شپه ده؟ رسول اللهr وفرمایل :یا دقدرشپه نده مګرمزدور ته هغه وخت مزدوري ورکول کیږي چې خپل کارپوره کړي.[٢٢]

رسول اکرمr فرمایلی دی : څوك چي دروژې په میاشت کښی دذکر ومجلس ته ورسي اللهY به یې دهر قدم په بدله کښی دیوه کال دعبادت ثواب ورکړیاوزما سره به دقیامت په ورځ دعرش ترسیوری لاندی وی . که څوك په دې میاشت کښي دلمانځه پر جماعت باندی دوام وکړي الله Y به دهر رکعت په بدله کښي یو ښاردنور څخه ورکړی ، که څوك په دې میاشت کښي دمور اوپلار رضا تر لاسه کړی اللهY به په نرمۍ اورحمت ورته وګوری او زه به ئی ضامن یم ،که یوه ښځه پدې میاشت کښي دخپل مېړه رضا ترلاسه کړي اللهY به ثواب د بي بي مریمی اوبي بي آسېي (رضی الله عنهما) ورکړی،که چا پدي میاشت کښي دیو مسلمان حاجت پوره کړې اللهY به دده زر واره زرحاجته پوره کړي، که چا پدې میاشت کښي و یو عیال داره مسکین ته صدقه
ورکړه اللهY به زر واره زر نیکۍ ورکړي او زر واره زر ګناوې به څنی محوه کړي او زر واره زر درجې به ورلوړي

کړي .[۲۳]
رسول اللهr فرمایي : اللهY دروژې دمیاشتي په هره شپه اوورځ کي دوزخیان ددوزخ دبند څخه خلاصوي یعني بخښي یي اوددې میاشتي په هره شپه اوورځ کي دبنده یوه دعا خامخا قبلوي .[۲۴]
رسول اللهr فرمایي : اللهY ددرو کسانودعا خامخا قبلوي (لومړی) دروژاتي دعا کله چي روژه ماته کړي (دوهم) دعادل پاچا دعا (دریم) دمظلوم دعا چي کله یې وکړي اللهY یې ترووریځوپورته کړي داسمان دروازې ورته خلاصي کړي اوورته ووایي : زمادي په خپل عزت سره قسم وي چي زه به ستا مرسته کوم که هم څه وخت وروسته وي [۲۵]
حضرت انسy درسولY څخه روایت کړی دی چي رسولr وفرمایل : څوك چي دمسلمان ورور سره دیوکار کولو لپاره ولاړسي اللهY به د هر قدم په بدل کښي اویا نیکۍ ورکړي او اویا ګناوي به ورمعاف کړي ترهغه وخته پوري چي دی او هغه سره جلا کیږی .[۲۶]
عبادة بن صامتy وایي : روژي ته نژدې یوه ورځ رسول اللهr وفرمایل : مورږ ته

روژه راغله دادلوي برکت میاشت ده پدې میاشت کي اللهY ستاسو ولوري ته متوجه کيږي ، خپل خاص رحمتونه نازلوي ، ګناهونه بخښي ، دعاوي قبلوي اواللهY ستاسو سيالۍ ته ګوري چي تاسو يې په عبادت کي يودبله کوی اوپرملائکوباندي فخرکوي نوتاسو اللهY ته خپله نيکي وښاياست . هغه څوک بدبخته دی چي پدې مياشت کي دااللهY درحمت څخه بې برخي سي.[۲۷]

رسول اللهr فرمايي : څوك چي چاته روژه مات ور کړي د داسی شی څخه چي ده په حلال کسب ګټلی وي دغه ټوله مياشت به ملائکی درود باندی وايي همدا ډول به جبرئيل (عليه السلام) درود باندی ووايی، په يوه روايت کښی راغلی دی چي جبرئيل (عليه السلام) به دقدر په شپه ورسره غيږ په غيږ سي .[۲۸]

رسول اکرمr فرمايلي دي : دروژی په مياشت کښي د جمعې ورځ دومره فضيلت لری لکه دروژې مياشت چي پر نورو مياشتو بهتري لري .[۲۹]

حضرت موسی (عليه السلام) واللهY ته وويل : اې ربه ! زه دي په خپلو خبرو مشرف ګرځولی يم ايا داسی بهتري دي بل چا ته ورکړی ده ؟ اللهY وحي ورته وکړی : ورته وي ويل: اې موسی ! زه بندګان لرم چي په اخره زما نه کښي يې پيداکوم زه به دوی دروژې سره په مياشت مشرف کړم او ددوی هريو ه ته به زه ترتا نژدې يم ځکه زه چي ستا سره خبري کوم زما اوستا ترمنځ اويا زره حجابه دي کوم وخت چي دمحمد r امت روژه ونيسي اوشونډان يې سپېره سي رنګونه يې ژړ سی نو زما اوددوی ترمنځ دروژمات په وخت کښي ټوله حجابونه پورته سی ، اې موسی ! خوشالي دي وي هغه چالره چي اينه يې تږي اونس يې وږی سی دروژې په مياشت کښی .[۳۰]

حضرت علیy فرمايي : کچيری اللهY د محمدی امت دعذاب اراده کړی وای نو دروژې مياشت او قل هوالله شريف به يې نوای ورکړي .[۳۱]

کعب الاحبار ويلي دي : چي اللهY موسی (عليه السلام) ته وحي وکړي او ورته وي فرمايل: اې موسی ! ما اراده کړی ده چي دروژاتيانو دعا به نه ردوم ، اې موسی ! ما اسمانونو، مځکو، مرغانو او چارپايانو ته الهام کړی دی چی روژاتيانو ته دروژې په مياشت کښي دااللهY څخه مغفرت وغواړی .[۳۲]

دقيامت په ورځ به يو سړی ملائکو نيولی وي او وهی به يي پر رسول اللهr به

پښښ سي رسول اللهr به ورته ووايي څه ګناه يې کړی ده ؟ ملائکي به ورته ووايي دروژې مياشت پر راغله مګر ده روژه ونه نيول رسول اللهr به اراده وکړی چی شفاعت يې وکړی ملائکی به ورته ووايی : ای محمدr ! دا دروژې(رمضان)دمياشتی دښمن دی رسول اللهr به ووايی زه دهغه چا څخه بېزاره يم چي دروژې دمياشتي دښمن وي زه يې شفاعت نکوم .[۳۳]

په يوبل حديث کښي راغلي دي چي نبیr فرمايي : کوم وخت چي روژاتی مومن ويده وي او ويښ سی ديوه اړخ څخه بل اړخ ته واوړی او داللهY ذکر ووايي ملائکه ورته ووايی: ولاړسه لمونځ وکړه اللهY دي رحم درباندي وکړی کچيری دی ولاړسی پر کوم پرش چي پروت وي هغه داسي دعا ورته وکړي :

اې خدايه ! دجنت لوړ پرش ورکړی ، کوم وخت چي کالي واغوندي کالي داسي دعا ورته وکړي : اې خدايه ! دجنت ورېښمين کالي ورکړی ،کوم وخت چې بوټونه په پښو کړي بوټونه داسي دعا ورته وکړي اې خدايه ! پښی ئی پر پول صراط ټينګي کړي،کوم وخت چي داوداسه لوښی راواخلي هغه لوښی داسي دعا ورته وکړي : اې خدايه ! دجنت لوښی ورنصيب کړي، کله چي اودس تازه کوي اوبه داسی دعا ورته کوی : اې خدايه ! دګناهونو او خطاوو څخه يې پاك کړی ، که پر لمانځه ودريدی هغه کوټه داسي دعا ورته وکړي : اې خدايه ! په قبر کښي لحد ور روښانه کړي اوقبر ورته پراخ وګرځوي ، کوم وخت چې يې په لمانځه پيل وکړی اللهY درحمت په نظر ورته وګوري او ورته ووايي : اې زما بنده ! پر تا دعا ده پر ما يې قبلول دي.[۳۴]

درسول اکرمY څخه روايت دی چي دی مبارك فرمايی : دروژاتی خوب عبادت دی ، ساه کښل يې تسبيح دي ، دعا يې قبليږي ، ګناه يې بخښل کيږی اونېك عمل به يې دوه چنده ثواب لری ........[۳۵]

يادونه : دروژمات پرمهال دا دعا ويل سنت دی

(( اَللهُمَ لَكَ صِمْتُ وَبِكَ آمَنْتُ وَعَلَيْكَ تَوَكلْتُ وَعَلی رِزقِكَ اَفْطَرْتُ )) [۳۶]

درسول اللهr څخه روايت دی چي رسول اللهr دروژمات په وخت کښي دا دعا ويل :

(( ذَهَبَ الظَمْاءُ وَابْتَلَتَ الْعُرُوْقَ وَثَبَتَ الْاَجْرُ اِنْ شَآءَ اللهُ تَعَالَی )) [۳۷]

رسول اللهr فرمايي : کوم وخت چي يو ستاسو څخه روژه ماتوی نو په خرما سره دی ماته کړي که خرما نه وه بيا دي يې په اوبو سره ماته کړي اوبه پاکي دي .[۳۸]

رسول اللهe فرمايلي دي : تاسو په روژه کښی پېشلمی کوی پيشلمی دشک پرته برکت دی .[۳۹]

په بل ځای کښي رسول اللهr فرمايلي دي : بېشکه اللهY اودهغه ملائکی پرپيشلمی کوونکو باندی درود وايی .[۴۰]

په بل حديث کښي راغلي دي رسول اللهr فرمايی : پېشلمی ټوله برکت دی تاسو يې مه پرېږدئ که څه هم يوغوړپ اوبه وی.[۴۱]

يادونه : دروژی دمياشتی نوم په قران اوحديثونو کي په (رمضان) سره نومول سوی دی (رمضان) پنځه حرفه دی اول حرف يې راء ده راء يې رحمت دی هغه کسانوته چي الله Y ته نژدې وي ، ميم يې مغفرت دی ګناهګارانوته ، ضاد يې ضمانت دی فرمانبرادارو انسانانوته ، الف يې الفت دی هغه کسانوته چي توکل کوونکي وي ، نون يې نوال (اميد) دی صادقانو ته رمضان ته ځکه رمضان ويل کيږی چي درمض څخه اخستل سوی دی په معنی دسوځولو دی درمضان مياشت هم ګناهونه سوځی .

يادونه : يهوديانو درسول اللهr څخه سوال وکړی چي روژه ولي دېرش ورځي ده ؟ رسول اللهr په جواب کښي ورته وويل : آدم (عليه السلام) چي دغنم دانه وخوړل په نس کښي يې دېرش ورځي پاته سوه اللهY يې پراولادونو دېرش ورځی لوږه فرض کړه .[۴۲]

عجائب المخلوقات دامام جعفرصادق (رحمة الله عليه) څخه روايت کوي چي زما دپنځوسو (۵۰)کالو تجربه ده چي دروژې دمياشتی هره پنځمه ورځ دراتلونکی کال دروژې لومړی ورځ وي يعنی که د روژې پنځمه دشنبې ورځ وه دراتلونکي کال لومړی ورځ به شنبه وي .[۴۳]

فائده – دحضرت انسy څخه روايت دی ، دی مبارك فرمايي : هرمومن بنده چي مياشت ويني اللهY لره حمد اوثنا ووايي وروسته اوه ځله الحمدلله ووايي اللهY به يې په دغه مياشت کښي دسترګو دخوږ څخه وساتی .[۴۴]

******

دقدرشپه ( شب قدر )

دقدرشپه چي اللهY يوازي دې امت ته ستر نعمت ورکړي دی چي ځانګړتياوي يې بيخي زياتي دي ځکه اللهr فرمايي :

[ä's#ø‹ s9 Í‘ô‰s)ø9$# ×öy{ ô`ÏiB É#ø9r& 9öky ÇÌÈ [۴۵

ژباړه : بېشکه شپه دقدر ترزرو مياشتو بهتره ده .

يعنی کچيری يو څوك يوه شپه دقدر عبادت وکړي دزرو مياشتو دعبادت ثواب به يې ګټلی وی . زر مياشتی ۸۳ کاله څلورمياشتی کيږی چی د ۳۰ زره ورځو اوشپو سره برابريږی .

کعب الاحبارy فرمايلی دی : په بنی اسرائيلو کښي يو صالح پاچا وو اللهY ددغه زمانې وپيغمبر ته وحي وکړي چي دغه باچا ته ووايه چي زما څخه يوه دعا وغواړه زه به يې قبوله کړم پيغمبر پاچا ته دااللهY پيغام ورساوه پا چا اللهY ته داسی خواست وکړی : اې خدايه ! زه غواړم چي په ځان ، مال اواولاد سره ستا په لارکښي جهاد وکړم ، اللهY دغه پاچا ته زر زامن ورکړه پاچا دخپلي مينی پر بنسټ خپل زامن جهاد ته برابر کړه تر داسي بريده چي ټوله زامن يې په زرو مياشتو کښي شهيدان سوه آخر خپله جهاد ته ولاړی دی هم شهيد سو ، خلګو چي داقصه واوريده نويې وويل چي ددې پاچا مرتبې ته به هيڅوك نه ورسيږی اللهY پورتنی سورة نازل کړي چي دقدر شپه تر زرو مياشتو بهتره ده .

يعني که څوك په دغه شپه عبادت وکړي تر هغه پاچا به يې مرتبه لوړه وی .

داچی دا شپه به کومه شپه وي ددې شپې په تعين کښي دعلماؤ کرامو اختلاف دی دځينو په آند دقدر شپه دروژې په آخرو لسو شپوکي ده اوپرطاق نېټه باندي وي ځکه رسول اللهr فرمايي : تاسو دقدرشپه دروژې دمياشتي داخرولسوورځو په طاق نېټو کي ولټوئ [۴۶]

زيات علماء په دې آند دي چي دروژې دمياشتی اووه ويشتمه دقدر شپه ده .

[۴۷]

امام شافعی (رحمة الله علیه) ویلی دی : زما په آند غوره روایت دادی چي دقدرشپه په یوویشتم ده .

صاحب التنبیه لیکی : دقدر شپه په اوویشتم ده ځکه دلیلة القدر حروف نهه دی اللهY په قرانکریم کي درې ځلی ذکر کړي ده درې چي په نهه کښې ضرب کړي اوویشت ځني جوړیږي نو دقدر شپه هم په اووه ویشتم ده.[۴۸]

عبدالله ابن عباسy وایي : دقدر شپه دروژې په اوویشتم ده ځکه اللهY اسمانونه اوه پیداکړی دی مځکی یې اوه پیداکړی دي دریابونه یې اوه پیداکړي دي ورځي یې اوه پیداکړي دي انسانان یې داوو شیانو پیداکړی دي اود اوو شیانوڅخه رزق ورکوي نو دقدر شپه هم په اوویشتم ده.[۴۹]

نزهة المجالس دشیخ ابوالحسن په حواله لیکی :چی ډیرو تجربوثابته کړی ده : چي که دروژې لومړۍ ورځ یکشنبه وه دقدر شپه به په نهه ویشتم وی ، که یې لومړۍ ورځ دوشنبه وه دقدرشپه به په یوویشتم وي که یې لومړۍ ورځ سه شنبه وه دقدرشپه به په اووه ویشتم وي ، که یې لومړۍ ورځ چهارشنبه وه دقدرشپه به په نهه ویشتم وي لکه یکشنبه ، که یې لومړۍ ورځ پنچشنبه وه دقدرشپه به په پنځه ویشتم وی ، که یې لومړۍ ورځ جمعه وه دقدرشپه به په اوویشتم وي لکه سه شنبه اوکه یې لومړی ورځ شنبه وه دقدرشپه به په درویشتم وی چي په لاندیني جدول کي ښه څرګندیږي. [۵۰]

دروژې لومړۍ ورځ دقدرشپه

شنبه درویشتم

یکشنبه نهه ویشتم

دوشنبه یویشتم

سه شنبه اوویشتم

چهارشنبه نهه ویشتم

پنځشنبه پنځه ویشتم

جمعه اوویشتم

ابن عبدالسلام په قواعد کښی لیکی : یوه نیکی په دغه شپه کښي تر زرو نیکیو بهتره ده چي په نورو شپو کښي یې وکړي .

څوك چي داووه ويشتم په شپه څلور ركعته نفل وكړی په هر ركعت كښي يو وار الحمدلله ، يو وارالهاكم التكاثر اودرې ځله قل هوالله وايی اللهY به دځنكندن سختی پرې اسانه كړی او دقبر عذاب به ځنی پورته كړی [۵۱]

رسول اللهr فرمايي : كه چا دقدر په شپه كي دايمان سره دثواب په نيت عبادت وكړی اللهY به تېرتول ګناهونه وروبخښي .[۵۲]

نزهة المجالس ليكلي دي :اللهY پرنوح (عليه السلام) سلام ووايه غلبه يې پر كافرانو وركړی توله يې په قهر طوفان كښي غرق كړه يواځي ده او ځنی انسانانو او حيوانانوته يې نجات وركړی وروسته تر دې چي نهه نيم سوه كاله عمر يې پكښي تير كړی . اللهY پرسل كلنی پيغمبر كړی وو .

پرحضرت موسی عليه السلام يې سلام ووايه په درياب كښی يې سالم وساته .

پرحضرت عيسی (عليه السلام) يې سلام ووايه دمړو ژوندی كيدل يې ورپه برخه كړه .

پرحضرت ابراهيم (عليه السلام) يې سلام ووايه په اوركښی يې نجات وركړی.

پرحضرت محمدr يې سلام ووايه شفاعت يې ورپه برخه كړی .

د محمدr پرامت يې سلام ووايه دقدرشپه يې ورنصيب كړه . [۵۳]

حضرت انسy فرمايي چي روژه راغله نورسول اللهr وفرمايل :تاسوته داسي مياشت راغله چي دقدرشپه پكښي ده دقدر شپه ترزرو مياشتو بهتره ده څوك چي ددې مياشتي څخه بې برخي سو دټول خير څخه بې برخي سو ددې خير څخه يوازي بدبخته بې برخي كيږي .[۵۴]

بي بي عائشې (رضي الله عنها) دررسول اللهr څخه وپوښتل چي كچيري ماته دقدرشپه معلومه سو نوزه كومه دعاوكړم ؟ رسول اللهr وفرمايل : چي دغه دعاكوه :

اَللَهُم اِنکَ عَفُوتُحِب الْعَفوَفَاعْفُ عَنيْ .

ژباړه : اې خدايه! ته عفوه كونكی يې عفوه خوښوي نوماته هم عفوه وكړي . [۵۵]

كعب الاحبارy ليكي : كه څوك دقدر په شپه درې ځله (لااله الاالله ) دزړه داخلاصه ووايي اللهY به په لومړی ځل مغفرت ورته وكړي په دوهم ځل به

داوره ځخه نجات ورکړي اوپه دريم ځل به جنت ورپه برخه کړی .[۵۶]
فائده : دحضرت علیy څخه روایت دی ، دی مبارك وايي: که څوك د ( RÎ)¯$
سورة دماخستن ( çm»oYø9t‘‘Rr& ’Îû Ï's#ø‹ s9 Í‘ô‰s)ø9$# ÇÊÈ
ترلمانځه وروسته اوه ځله ووايي اللهY به يې دهري بلا څخه وساتی او اويا زره
ملائكي به دجنت دعا ورته وکړی ، که يې څوك دجمعې په ورځ درې ځله
ترلمانځه مخکی ووايي اللهY به يې دهغه کسانو په شمېر چی په دغه ورځ يې
دجمعی لمونځ کړی دی نیکی ورکړی .[۵۷]
فائده : که څوك دغه سورة ولیکی او بې اولاده ښځی ته يې ورکړی اللهY به
اولاد ورکړی .[۵۸]
که څوك دغه سورة تر هر فرضی لمانځه وروسته وايی اللهY به نورپه قبر کښي
ورکړی يو نور به دتول اوترازو پرمهال ورکړی اويو نوربه د پول صراط
دتېرېدو پر مهال ورکړی . {۵۹}
والله اعلم باالصواب
****

دکوچنی اختر ورځ
کوم وخت چی مومن مسلمان دروژې په نیولو کښي کامیابه سي اللهY
دکوچنی اختر په ورځ ټولی مزدوری ورکوي دغه ورځ ډيره دقدروړ ورځ ده
ځکه اللهY دمسلمانانو دبریالیتوب په موخه داسی فرمايی :
ô‰s% yxn=øùr& `tB 4’ª1t“s? ÇÊÍÈ tx.sŒur zOó™$# ¾ÏmÎn/u‘
. 4’©?|Ásù ÇÊÎÈ
ژباړه – بېشکه هغه څوك کامیاب سو چي ځان پاك کړی (یعنی سرسایه ورکړی
) اوذکر دخپل رب وکړی ( یعنی تکبیرونه ووايي ) بیا لمونځ وکړی ( یعنی
داختر لمونځ وکړی ) .

دحضرت انسy څخه روايت دی : کوم وخت چي رسول اللهr مدينې منورې ته تشريف راوړی دمدينې خلګو دوې ورځي درلودي دغه ورځي يې لمانځلي رسول اللهr ددغه ورځو په اړه پوښتنه وکړه دمدينې خلګو ورته وويل چی دا دوې ورځي زموږ دميلو دي او موږ يې لمانځو رسول اللهr وويل اللهY تاسو ته دغه دوې ورځی په دوو داسو ورځو دربدلي کړي چي تر دغه ورځو بهتري دي چي يوه ورځ دلوی اختر ده اويوه ورځ دکوچني اختر ده [۶۰]

کوم وخت چي دکوچنی اخترسهارسی اللهY دښارو وټولو کوڅو ته ملائکي راواستوي په سرو کښي يې ودريږي په لوړاواز داسي وايي : اې امت دمحمد رسول الله ووزی واللهY ته ( يعنی عيد ګاه ته ) اللهY به ډيره مزدوری درکړي او اللهY به بخښنه درته وکړي . [۶۱]

کوم وخت چي خلګ وعيد ګاه ته راووزي اللهY پرملائکوفخرکوي اوورته ووايي : دمزدور مزدوری څه ده چی خپل کارپوره وکړی ؟ ملائکي ورته ووايي مزدوری يې داده چي خپله مزدوري پوره ورکړل سیالله Y ووايی : اې ملائکو زه تاسوشاهداني ګرځوم چي زه به دوی ته دروژو اوعبادت مزدوري ورکوم اومغفرت به ورته کوم ، بيا اللهY ووايي اې زما بندګانو تاسو زما څخه سوال وکړی زما دي په خپل عزت اوجلاليت قسم وي چي تاسوهرسوال زما څخه وکړی ددين وی اوکه ددنياوي زه به يې قبلوم بيا اللهY خپلوبندګانوته ووايي : ولاړسی خپلو کوروته په داسي حال کي چي تاسوبخښل سوي ياست.[۶۲]

يعني که چا روژې اوتراويح پوره کړی وي داختر په ورځ چی دااللهY څخه هرشی وغواړي يعني هره دعاوکړي اللهY يې قبلوی .

دحضرت وهب بن منبهy څخه روايت دی ده مبارك ويلي دي : چی رسول اللهr فرمايلی دی : دشك پرته شيطان دهر اختر په ورځ لوچيغه کوي دستی خپل خوا خوږي ورته راسی ورته ووايي : اې پلاره کوم شي درد (غصه)دروستلی ده موږ به يې دړي وړي کړو شيطان ورته ووايي اللهY ودې امت ته بخښنه وکړه پرتاسو لازمه ده چي دوی په ګناهونو اخته کړی په ميلو يې اخته کړی غيرشرعي کارونه په وکړی چي اللهY ببرته ورته په قهرسي اومغفرت ورته ونه کړي .[۶۳]

مطلب داچي په اخترکښي اللهY بې حسابه خلګ بخښي شیطان پدې خوابدی کیږي نوکوشش کوي چي په اختر کښي خلګ بېرته ګمراه کړي ناروا وي په وکړي په مېلو ، هګۍ جنګولو اوخمارکولو یې اخته کړي اللهY ورته په قهرکړي خومسلمان ته ښايي چي دشیطان لعین مقابله وکړي او دناروا وو څخه داختر په ورځ ځان وساتي هغه ګټلي ګټه بېرته دلاسه ورنه کړي .

رسول اکرمr فرمايلي دي : تاسو داختر په ورځ کوشش وکړئ ځکه داهغه ورځ ده چي اللهY ستاسو ګناهونه بخښي دعاوي مو قبلوي اوتاسوته په نظردرحمت ګوري .

هرانسان ته لازمه ده چي داسي طلايي وخت دلاسه ورنه کړي بلکي ګټه پکښي وکړي ځکه رسول اللهr فرمايي : دقيامت په ورځ دهر انسان څخه دڅلورو شيانو پوښتنه کيږي لومړی داچي عمر دي په څشي کښي دي مصرف کړی دوهم داچي په علم دي کوم عمل وکړي دريم داچي مال دي دکومي خوا لاسته راوړي څلورم داچي مال دي په څشي کښي مصرف کړي .[۶۴]

دحضرت انس بن مالكy څخه روايت دي ده مبارك ويلي دي : هرمومن لره ددغه دوو اخترو پرته پنځه اختره نورسته لومړی اختريې دادی چي ورځ پرې تېره سي ګناه ځني ونسي دوهم اختريې دادی چي ددنياڅخه دايمانه سره ملګری ولاړسي دريم اختريې دادی چي پر پول صراط باندي تېرسي څلورم اختريې دادی چي جنت ته داخل سي پنځم اختريې دادی چي داللهY ديداروکړي .[۶۵]

رسول اکرمr فرمايلي دي :اللهY دکوچني اخترپه ورځ جنت او ددرختونښاخونه يې پيداکړي دي . دکوچني اختر په ورځ دي مبارکي وي .الله جل جلاله دکوچني اخترپه ورځ جبرئيل عليه السلام دوحي لپاره ټاکلی دی .

والله اعلم باالصواب

****

دکوچني اختر دمياشتي شپږ ورځي روژه

کله چي روژه پوره سي نوالله Y دانسانانودخوشالی په موخه دکوچني اخترورځ پيداکړي ده دکوچني اختر په ورځ روژه نيول حرام دي ځکه دغه ورځ الله Y دخوشالی لپاره پيداکړي ده ترڅومسلمانان دخوشالۍ څرګندونه وکړي چي اللهY دروژو نيولواوتراويح کولو توفيق ورکړي څوک چي پدې ورځ روژه نيسي داپدې معني دی چي دالله Y خوشالی يې خوښه نه ده خوتردغه لومړۍ ورځي ورسته په دوهمه ورځ روژه نيول جائز ده بلکي زيات ثواب هم لري ځکه دمسلمان لپاره داډېرلوي همت دی چي تريوې مياشتي ورسته بياهم روژې نيسي ددغه روژو دارزښت په اړه رسول اللهr فرمايي : څوک چي دروژې مياشت روژه ونيسي وروسته بياشپږ ورځي (داختر دورځي ) پسې دستي روژه ونيسي دومره ثواب لري لکه ټول عمر چي روژه ونيسي .[۶۶]

*****

ددوشنبې اوپنځشنبې روژه

دهري اونۍ په بهير کي ددوشنبې اوپنځشنبې په ورځ روژه نيول زيات ثواب لري ځکه رسول اللهr فرمايي : ددوشنبې اوپنځشنبې په ورځ دانسانانوعملونه وړاندي کيږي نو زه داخوښوم چي زماعملونه پداسي وخت کي وړاندي سي چي زه روژاتي يم .[۶۷]

درسول اللهr څخه ددوشنبې دورځي دروژې په اړه پوښتنه وسوه رسول اللهr وفرمايل : داهغه ورځ ده چي زه پکښي پيداسوي يم او زه پکښي پيغمبرسوي يم .[۶۸]

حضرت عائشة (رضي الله عنها) فرمايي :رسول اللهr په اهتمام (پايبندي)سره ددوشنبې اوپنځشنبې روژه نيول .يعني په دغه دوو ورځويې روژه نه پرېښودل [۶۹].

******

دهري مياشتي د (۱۳، ۱۴، ۱۵) روژه

(ايام البيض)

په هره مياشت کي ددیارلسم ، څوارلسم او پنځلسم روژه نيول زيات ثواب لري دځينو په آند ددوولسم ، ديارلسم او پنځلسم ورځي دي خولومړي خبره صحيح او مشهوره ده.

دحضرت ابي ذرy څخه روايت دی چي رسول اللهr وفرمايل: کله چي ددې اراده وکړه چي په مياشت کي درې روژې ونيسي نو ددیارلسم ، څوارلسم او پنځلسم روژې ونيسه .[۷۰]

قتادة بن ملحانy فرمايي : رسول اللهr موږ ته (ايام البيض) دورځو دروژې نيولو امرکاوه (يعني) ددیارسلم ، څوارلسم او پنځلسم ورځو.[۷۱]

حضرت عبدالله بن عباس (رضي الله عنهما) فرمايي : رسول اللهr به نه په کورکي اونه په سفرکي ددیارلسم ، څوارلسم او پنځلسم روژې پرېښودلي . [۷۲]

حضرت ابي هريرةy فرمايي : زمااشناي حضرت محمدr ماته ددروشيانووصيت وکړی(لومړی)داچي دهري مياشتي څخه به درې ورځي روژه نيسم (دوهم) داچي دڅاښت دوه رکعته نفل به کوم (دريم) داچي تربيديدو وړاندي به وترکوم .[۷۳]

حضرت ابي دردآءy فرمايي: ماته خپل اشناي حضرت محمدr ددروشيانو وصيت وکړی ترکومه وخته چي ژوندی يم زه به يې نه پرېږدم (لومړی) داچي په هره مياشت کي به درې ورځي روژه نيسم (دوهم) داچي دڅاښت نفل به کوم (دريم) داچي تربيدېدو وړاندي به وترکوم .{۷۴}

دعبدالله بن عمروبن عاص (رضي الله عنهما) څخه روايت دی چي رسول اللهr وفرمايل : په هره مياشت کي درې ورځي روژه نيول دومره ثواب لري لکه ټول عمر چي سړی روژه نيسي .[۷۵]

معاذه عدوية دبي بي عائشې (رضي الله عنها) څخه پوښتنه وکړه چي رسول اللهr هره مياشت درې ورځي روژه نيول ؟ بي بي عائشې (رضي الله عنها) ورته

وويل : رسول اللهr ددې پروا نه کول چې دمياشتې کومه برخه ده (هروخت يې روژه نيول) .[٧٦]
******

دلوي اختردمياشتې اولې لس ورځې
نزهة المجالس ليکلي دي : اللهY دمحمدي امت اکرام وکړی دعرفات روژه يې ورکړه .
اللهY پدې ورځو کښې دڅلورو انبياؤ درنښت کړی دی : لومړي ادم (عليه السلام) دی چې دغنم دانه يې خوړلي وه په دغه ورځ يې اللهY توبه قبوله کړه په توبه سره يې درنښت وسو. دوهم دموسي (عليه السلام) درنښت وسو اللهY خبري ورسره وکړي، يعني اللهY خپله خبري ورسره وکړي چې دنورو انبياؤ سره به يې دجبرئيل (عليه السلام) په واسطه خبري کولي . دريم دابراهيم عليه السلام درنښت وسو دزوي په قرباني کولوکي کامياب سو. يعني په دغه امتحان کښي کامياب سو ، څلورم دمحمدr درنښت په حج سره وسو او دين يې پوره سو. [٧٧]
درسول اللهr څخه دعرفات دورځې په اړه پوښتنه وسوه ده مبارک وفرمايل : دعرفات دورځې روژه دتېراوراتلونکي کال ګناهونه بخښي .[٧٨]
حضرت ابوهريرهy درسول اللهr څخه روايت کوي چې وي فرمايل : که چا دعرفات په ورځ روژه ونيول اللهY به دهغه کسانوپه شمېر چې په دغه ورځ يې روژه نيولي وي اودهغه کسانوپه شمېرچې روژه يې نه يې نيولي ثواب ورکړي او دقيامت په ورځ به دده سره اويازره ملائکي دده ددرنښت لپاره د حشرګاه ميدان اودعملونودتول اوترازو ډګر ته ځي اود حشرګاه څخه ترپول صراط اوترجنته پوري به دغه ملائکي ورسره ملګري وي اوپرهرقدم به نوي نوي

زيري دجنت ورکوي . [۷۹]

رسول اللهr فرمايي : دلوي اختر دمياشي په لومړيولسو ورځوکي عبادت کول اللهY ته ترهرکار ډيرخوښ دی اصحابوکرامو وپوښتل چي يارسول الله ! ترجهاد هم اللهY ته ددغه شپوعبادت خوښ دی ؟ رسول اللهr وفرمايل : ترجهاد هم اللهY ته خوښ دی مګر هغه سړی چي جهاد ته ولاړسي دځان سره پيسې يوسي مال اوځان دواړه دالله Y په لاره کي ورکړي .[۸۰]

رسول اللهr فرمايي: اللهY ته دلوي اختر دمياشتي دلومړيو ورځو په پرتله دهيڅ ورځو عبادت خوښ نه دی ددغه ورځو يوه روژه ديوه کال دروژو ثواب لري اوشپه روڼول يې دقدر دشپې ثواب لري .[۸۱]

درسول اکرمY څخه روايت دي : څوك چي دلوي اخترد مياشتي په اتمه ورځ روژه ونيسي اللهY به دايوب (عليه السلام) دصبر ثواب ورکړي . اوکه چاپه نهمه ورځ روژه ونيول چي دعرفات ورځ کيږي اللهY به دومره ثواب ورکړي لکه ثواب دعيسي (عليه السلام) .[۸۲]

حضرت انس y ويلي دي : دلوي اخترد مياشتي دلومړيو لسو ورځو روژه دومره ثواب لري چي هره ورځ يې دزرو ورځو سره په ثواب کښي برابره ده اودعرفات ورځ يې دلسوزرو ورځوسره په ثواب کښي برابره ده [۸۳]

درسول اکرمr څخه روايت دي : کومه ورځ چي دعرفات سي اللهY خپل رحمتونه وغوړي ترټولو ورځو په دغه ورځ زيات خلګ بخښي اوددوزخ داور څخه يې ازاده وي. هرڅوك چي په دغه ورځ دالله Y څخه ددنيا يا داخرت سوال وکړي اللهY يې قبلوي . که چا په دغه ورځ روژه ونيول اللهY به دتيرکال اوهم دراتلونکي کال ګناهونه وروبخښي چي په قصده سره يې نه وکړي بلکي په خطاء ځني وسي .

دبي بي عائشي ( رضي الله عنها ) څخه روايت دي چي رسول اللهr وفرمايل : په جنت کښي غټې ماڼۍ او بنګلې ستة دسرو او سپينوزرو ، دياقوتو اوملغلروڅخه دي . بي بي عائشة (رضي الله عنها) وايي ما رسول اللهr ته وويل چي دا ماڼي دچا لپاره دي؟ رسول اللهr وفرمايل : څوك چي دعرفات دورځي روژه ونيسي اللهY به دغه ماڼي ورکړي ، بيا يې راته وويل اې عائشې پرچا

چي سهار سي اوعرفات ورځ وي روژه يې نيولي وي اللهY به دېرش دروازې دخير پرې راخلاصي کړي اودېرش دروازې د شربه پرې بندي کړي کوم وخت چي روژه ماته کړي اوبه وڅيښي دبدن ټوله رګونه به يې دالله Y څخه دده لپاره بخښنه وغواړي .[۸۴]

حضرت ام سلمي (رضي الله عنها) ويلي دي : ښه ورځ دعرفات ده دخيرورځ ده دبرکت ورځ ده درحمت ورځ ده دمغفرت ورځ ده . څوك چي پدې ورځ روژه ونيسي اللهY به يې اويا خندقه ددوزخ څخه ليري کړي اوپرعرفات باندي دولاړوحاجيانو دثواب څخه به يوه برخه ورکړي .[۸۵]

حضرت فضل بن عباس (رضي الله عنهما) درسول اللهr څخه روايت کوي : څوك چي دعرفات په ورځ ژبه ، سترګي اوغوږونه دګناه څخه وساتي اللهY به تر راتلونکي عرفات پوري مغفرت ورته وکړي .[۸۶]

ابن جارود وايي : يوه ورځ زه اويوملګري مي په زدکړه پسي روان وو دلوط (عليه السلام) دقوم کنډوالوته راغلو چي عبرت ځني واخلوموږ چي يوڅه وګرځېدو نابېره مو پريوڅا سترګي وموښتي چي کوسه وو اوپه خاورو يې مخ سپېره وو موږ ورته وويل څوك يې؟ هيڅ جواب يې رانکړي بيا موږ ورته وويل ته شيطان يې؟ ده راته وويل وو بيا مو ورته وويل نوڅه کوي ده راته وويل چي ما په خلګو پنځوس کاله ګناوي کړي وي دوي دعرفات په ورځ داللهY څخه بخښنه وغوښته داللهY رحمت راغلي دوي يې ټوله وبخښنه نوخوا مي بده سوه چي دپنځوسو کالوخواري مي ولاړه اوس دې کنډوالوته راغلي يم چي دزړه تسلي په وکړم اوزړه ته ډاډ ورکړم چي دومري خلګ خومي ګمراهان تېرکړي دي .[۸۷]

والله اعلم باالصواب وعنده ام الکتاب

****

دحسن حسین دمیاشتي لومړي لس ورځي

حضرت انسy درسول اللهr څخه روایت کړي دی : څوك چي دحسن حسین دمیاشتي په اوله جمعه روژه ونیسي اللهY به تېر ګناهونه ټول ور وبخښي کچا درې ورځي روژه پکښي ونیوله یعني د پنچشنبې جمعې اوشنبې ورځي اللهY به د نهو سوو کالو عبادت ثواب ورکړي .[۸۸]

په یوروایت کښي راغلي دي چي دحسن حسین دمیاشتي یوه ورځ روژه دنورو میاشتو ددېرشو ورځو روژو سره برابره ده . [۸۹]

عائشي صدیقي (رضي الله عنها) ویلي دي چي رسول اللهr ویلي دي : څوك چي دحسن حسین دمیاشتي لومړي لس ورځي روژه ونیسي د عاشورا دورځي پوري یعني ترلسمي ورځي پوري اللهY به جنت فردوس اعلي ورنصیب کړي . [۹۰]

درسول اللهr څخه روایت دي : څوك چي دعاشورا ( دحسن حسین دمیاشتي لسمه )ورځ روژه ونیسي اللهY به د زرو حجونو ، زرو عمرو او زرو شهیدانو ثواب ورکړي ، اللهY به دومره ثواب ورکړي لکه دمشرق اومغرب منځ، دومره ثواب به ترلاسه کړي لکه زر مریان چي داسماعیل (علیه السلام) داولادي څخه ازاد کړي ، اللهY به زر ماڼۍ په جنت کښي ورکړي ددوزخ اور به اللهY پرې حرام کړي .[۹۱]

اصحاب کهف چي دااللهY په قدرت دسوو کلو راهیسي ژوندي او بیده دي په یوغار کښي دعاشورا په ورځ دیوه اړخ څخه بل اړخ ته اوړي یعني په لسمه دحسن حسین دمیاشتي .[۹۲]

الله جل جلاله پدې ورځ ادم( علیه السلام) صفي الله وګرځاوه ، ادریس (علیه السلام) یې پورته کړي ، دنوح (علیه السلام) کښتۍ پدې ورځ پرجودي غره باندي ودریده وروسته تردې چي د اوبو پرسر یوسل اوپنځوس ورځي ګرځیدلي وه ، اللهY پدې ورځ کښي ابراهیم (علیه السلام) خلیل وګرځاوه ، اللهY پدې ورځ داؤد (علیه السلام) ته مغفرت وکړي ، دسلیمان (علیه السلام) څخه چي پاچهي دلاسه وتلي وه اللهY پدې ورځ ببرته پاچهي ورکړه یو وخت

سليمان (عليه السلام) ديوه پاچا سره جنګ وکړئ هغه يې وواژه دهغه يوه لور وه په نکاح يې کړه دغه ښځي په خپل پلارپسي ډيرژړل دزړه دتسلی په موخه يې شيطانانو ته امروکړي چي دپلار مجسمه ورته جوړه کړي مجسمه چي جوړه سوه دې عبادت ورته شروع کړئ داچي دسليمان (عليه السلام) په کورکښي دالله ثخه پرته دبل چا عبادت شروع سو سليمان (عليه السلام) خبر نه وو همدا دنه خبرتيا لامل وو چي يوه ورځ سليمان (عليه السلام) هغه مهر چي دالله په قدرت يې په هغه سره پاچهي کوله دګوتي ثخه وکښي خپلي ښځي ته يې ورکړي شيطان دسليمان (عليه السلام) په شکل راغلي دهغه ښځي ثخه مهريې واخستي پاچهي يې شروع کړه سليمان (عليه السلام) چي دښځي ثخه مهرطلب کړئ هغې ورته وويل چي ماتاته درکړي دسليمان (عليه السلام) دلاس ثخه پاچهي ووتل دڅه وخت ثخه وروسته هغه شيطان چي دسليمان (عليه السلام) په شکل پرپاچهي ناست وو په خپل حکم يې دښځي سره په حيض کښي نزديکت جائزکړئ خلګو انکار وکړي اوي ويل چي دا پريکړه دسليمان (عليه السلام) ندده شيطان ولاړي وتښتيدي مهريې په درياب کښي وغورځاوه بيا ماهی تيرکړئ وروسته دالله په قدرت سره يوه ماهي ګر دغه ماهی ونيوي نس يې ورڅيري کړئ مهريې ښرته سليمان (عليه السلام) ته ورکړئ پاچهي يې پيل کړه، وروسته جبرئيل (عليه السلام) حضرت سليمان (عليه السلام) دهغه ښځي دبت په عبادت خبر کړئ سليمان عليه السلام بت مات کړي .

الله پدې ورځ کښي ديونس (عليه السلام) درنښت وکړئ دماهي دنسه يې راوکښي چي په درياب کښي ماهي تيرکړي وو هغه ماهي بيا بل ماهي تېرکړي وو اوڅلويښت ورځي يې دماهي په نس کښي تيري کړي وي .

حضرت ايوب (عليه السلام) چي په ډېره سخته ناروغۍ اخته وو الله پدې ورځ دهغه ناروغۍ ثخه خلاص کړي .

حضرت يوسف (عليه السلام) چي دخپل پلارڅخه څلويښت کاله ورك وو په يوه روايت اتيا کاله ورك وو پلار يې د ډېره غمه په سترګو پسي ړوند سوي وو پدې ورځ الله سره يو ځاي کړل .

حضرت عيسیٰ (عليه السلام) اللهY پدې ورځ پيدا کړيئ اوپه دې ورځ يې اسمانوته پورته کړي .
حضرت محمدr پدې مبارکه ورځ دحضرت خديجې (رضي الله عنها) سره نکاح وکړه .
اللهY پدې ورځ اسمانونه ، مځکي ، قلم ، ادم (عليه السلام) اوحواء (رضي الله عنها) پيدا کړي دي اوپدې ورځ به قيامت هم وي .[۹۳]
څوك چي په دې ورځ روژه ونيسي دومره ثواب لري لکه ټوله عمر چي روژه ونيسي ، څوك چي پدې ورځ ديتيم پرسر لاس تيرکړي اللهY به دهروېښته په بدله کښي يوه درخته په جنت کښي ورکړي ، څوك چي پدې ورځ کښي خيرات وکړي دومره ثواب لري لکه دمځکي ټولو مسکينانو ته چي خيرات ورکړي او هيڅوك ځني پاته نسي ، څوك چي پدې ورځ کښي ورك سړي ته لار وښيي يا بله لارښوونه ورته وکړي اللهY به يې دنورڅخه زړه وړډك کړي ، څوك چي پدې ورځ کښي خپل درد( غصه ) نوش کړي اللهY به يې د راضيينو په ډله کښي وليکي ، څوك چي پدې ورځ کښي دمسکين عزت وکړي اللهY به يې په هغه ورځ عزت وکړي چي په قبرکښي کښېښودل سي .[۹۴]
رسول اللهr فرمايلي دي : څوك چي پدې ورځ کښي پرخپل عيال باندي دخوراك پراخوالي راولي اللهY به پرده باندي ټوله کال درزق پراخوالي راولي . [۹۵]

درسول اللهr څخه روايت دي : څوك چي په دغه ورځ کښي څلور رکعته نفل وکړي په هر رکعت کښي يو وارالحمدلله اويوولس واره قل هوالله ووايي اللهY به دپنځوسوکالو ګناهونه وروبخښي اويومنبر دنور څخه به ورته جوړکړي ، څوك چي پدې ورځ کښي غسل وکړي ټوله کال به دمرګ دناروغۍ پرته ناروغ نسي ، څوك چي پدې ورځ کښي سترګي توري کړي په دغه کال کښي به يې سترګي ړندې نسي امام نسفي وايي چي دزړه سترګي به يې ړندې نسي.[۹۶]
درسول اللهr څخه دعاشورا دورځي په اړه پوښتنه وسوه ده مبارك وفرمايل : دعاشورا دورځي روژه دتېراو راتلونکي کال ګناهونه بخښي .[۹۷]

****

دخداي تعالي مياشت
كتاب البركة ليكي : رسول اللهr فرمايلي دي : ځوك چي دخداي تعالي دمياشتي اوله پنځشنبه روژه ونيسي پر اللهY باندي به يې داحق وي چي جنت ته يې داخل كړي.[۹۸] كه څه هم پر اللهr باندي دهيڅچا حق لازميداي نسي مګر داسي به وي لكه حق .
درسول اللهr څخه روايت دي : ځوك چي دخداي تعالي دمياشتي اولي لس ورځي هره ورځ داكلمه سل واره ووايي :
(( سُبْحَانَ الْحَي الْقَيُوْم ))
دوهمي لس ورځي هره ورځ داكلمه سل واره ووايي : ((سُبْحَانَ اللهِ الْأَحَدِ الصَمَدُ ))
اوپه دريمه لسيزه كي داكلمه سل واره ووايي :
(( سُبْحَانَ اللهِ الرَؤُف ))
اللهY به دومره ثوابونه وركړي چي تراوسه يې هيڅچا صفت هم نوي اوريدلي .
[۹۹]
رسول اللهr فرمايلي دي : خبر اوسي دخداي تعالي مياشت داللهY مياشت ده برات زما مياشت ده اودروژې مياشت زما دامت مياشت ده ځوك چي يوه ورځ دخداي تعالي دمياشتي روژه ونيسي دايمان اوټينګې عقيدي په موخه داللهY لويه رضا به ورنصيب سي اوپه جنت فردوس كښي به ځاي وركړل سي اوكه چا دوي ورځي په دې مياشت كښي روژه ونيول اللهY به دوه چنده مزدوري وركړي هر چند به يې ددنيا دغرونو په څير وي كه چا درې ورځي روژه پدې مياشت كښي ونيول اللهY به دده اودوزخ ترمنځ يوخندق پيدا كړي چي اوږدوالي به يې ديوه كال لاروي كه چا درې ورځي پدې مياشت كښي روژه ونيول اللهY به يې دبلاو، ليونتوب ،ابلج ، پيس او دخرجهال دفتنې څخه وساتي كه چا پنځه

ورځي پدې مياشت کښي روژه ونيول اللهY به يې دقبر دعذابه څخه وساتي که چا پدې مياشت کښي شپږ ورځي روژه ونيول په کومه ورځ چي دقبرڅخه راپورته کيږي مخ به يې داسي وي لکه دڅوارلسم سپوږمۍ که چا پدې مياشت کښي اوه ورځي روژه ونيول ددوزخ اوه دروازې به ځني بندي سي که چاپدې مياشت کښي اته ورځي روژه ونيول دهري ورځي دروژې په بدل کښي به يوه دروازه دجنت ورته خلاصيږي چي په اتوروژو سره به اته سره دروازي دجنت ورته خلاصي سي که چا پدې مياشت کښي نهه روژې ونيولي کومه ورځ چي دقبرڅخه راپورته سي د لااله الا الله کلمه به وايي هيڅوك به يې تر جنت پوري مخ نه راوګرځوي که چا پدې مياشت کښي لس ورځي روژه ونيول اللهY به د پل صراط دتنګ پرمهال پرهرميل باندي يو فرش ورکړي چي دی استراحت پرې کوي که چاپدې مياشت کښي يوولس ورځي روژه ونيول دقيامت په ورځ به په عامو خلګوکښي ترده غوره څوك نوي مګر هغه څوك چي دومره ياتردې زياتي روژې يې نيولي وي که چا پدې مياشت کښي دوولس ورځي روژه ونيول اللهY به دوي ګينهې ورکړي چي يوه ګينهه به تر دنيا اوترمافيها بهتروي که چا پدې مياشت کښي ديارلس ورځي روژه ونيول اللهY به دقيامت په ورځ چي پرخلګو به ډيره سختي وي ده ته به يو سترخوان دعرش ترسيوري لاندي ورکړي که چا پدې مياشت کښي څوارلس ورځي روژه ونيول اللهY به دومره نعمتونه ورکړي چي نه به سترګو ليدلي وي ، نه به غوږو اوريدلي وي اونه به دچا پرزړه وړاندي سوي وي که چا پدې مياشت کښي پنځلس ورځي روژه ونيول اللهY به يې دآمنينو پرځاي ودروي چي ډيره لوړه مرتبه لري که چا پدې مياشت کښي شپاړس ورځي روژه ونيول اول هغه څوك به وي چي داللهY ديدار کوي که چا پدې مياشت کښي اوولس ورځي روژه ونيول اللهY به يې پرپل صراط باندي مستراح (استراحت ځاي) ورته جوړکړي چي دی استراحت پرې کوي که چا پدې مياشت کښي اتلس ورځي روژه ونيول اللهY به يې دابراهيم (عليه السلام) سره په جنت کښي يو ځاي کړي که چاپدې مياشت کښي نولس ورځي روژه ونيول اللهY به دآدم او ابراهيم (عليهما السلا م) پرڅنګ يوه ماڼۍ ورکړي که چا پدې مياشت کښي شل ورځي روژه ونيول يو اواز کونکي به اواز ورته

وکړي چي ستا تېرګناهونه ټول وبخښل سوه . [۱۰۰]

رسول اللهr فرمايي : دخداي تعالي دمياشتي عزت وکړي اللهY به دقيامت په ورځ ستاسو زر عزته وکړي . څوك چي ددې مياشتي په اول ، منځ اوآخر کښي غسل وکړي داسي به د ګناهو څخه پاك سي لکه په کومه ورځ چي دموره څخه پيداسوي وي .[۱۰۱]

حضرت عليy ويلي دي : دخداي تعالي دمياشتي دديارلسم روژه په ثواب کښي ددرو زروکالو دروژو سره برابره ده دڅوارلسم روژه يي په ثواب کښي دلسو زروکالو روژو سره برابره ده اودشلم روژه يې په ثواب کښي دسلو زرو کالو روژو سره برابره ده.[۱۰۲]

درسول اللهr څخه روايت دي : څوك چي دخداي تعالي دمياشتي يوه ورځ روژه ونيسي ثواب يې دومره زيات دی لکه څلوېښت کاله چي روژه ونيسي .[۱۰۳]

رسول اللهr فرمايي : بېشکه په جنت کښي يوه واله ده نوم يې رجب دی اوبه يې ترشيدوسپيني دي ترواوره يخي دي اوترعسلو خوږې دي څوك چي يوه روژه پدې ورځ ونيسي الله جل جلاله به يي په دغه واله اوبه کړي .[۱۰۴]

دحضرت ثوبانy عنه څخه روايت دي چي يوه ورځ رسول الله r پرڅوقبرو باندي تيريدی وي ژړل او راته وي ويل اې ثوبانه دا خلګ په عذاب دي الله Y ته مي دعا وکړه چي اللهY عذاب ځني سپك کړي اې ثوبانه که دغه خلګو يوه ورځ دخداي تعالي دمياشتي روژه نيولي واي اويوه شپه يې په عبادت روڼه کړي واي اللهY به ددغه عذابه څخه خلاص کړي واي ثوبانy وايي ما ورته وويل يارسول الله په يوه ورځ روژه او په يوه شپه عبادت خلاصيدل؟ رسول اللهr راته وويل : وو ، په هغه ذات دي مي قسم وي چي زما نفس يې په قدرت کښي دی هر مسلما ن نارينه اوهره مسلمانه ښځه چي يوه ورځ روژه دخداي تعالي په مياشت کښي ونيسي اويوه شپه عبادت پکښي وکړي اللهY به ديوه کال عبادت ثواب ورکړي .[۱۰۵]

همداډول دعلامه منصور(رحمةالله عليه)په آند درسول اللهr دمعراج حيرانونکي قصه هم ددغه مياشتي پر(۲۷) نېټه پېښه سوي ده خودځينوعلماؤ په آند دمعراج پېښه په لاندي نېټو رامنځته سوي ده :

امام طبري (رحمة الله عليه) فرمايي : دمعراج قصه دنبوت په لومړی کال پېښه سوي ده .
امام نووي اوامام قرطبي (رحمة الله عليهما) فرمايي : دمعراج قصه دنبوت په پنځم کال کي پېښه سوي ده .ځينو علماؤ يې نوري نېټې هم ښودلي دي [۱۰۶]
په هرصورت داچي څه وخت به دمعراج پېښه رامنځته سوي وي يقيني علم يې اللهY ته سته اوداهم يقيني ده چي دمعراج په پېښه کي هيڅ شک نسته .خو داچي دخداي تعالي مياشت ډېره دګټو ډکه مياشت ده ، ددغه پېښي هم امکان پکښي سته اودځينو خلګو دمعراج دقصې سره مينه ده نو پدې بهانه به دمعراج قصه په لنډو ټکوکي راونغاړو:

دمعراج قصه

ابن قيم ليکي : رسول اللهr دروح اوجسد دواړو سره په ويښه ديو براق په مټ دجبرائيل (عليه السلام) په ملنه دبيت الحرام څخه وبيت المقدس ته ورسيدی رسول اللهr په بيت المقدس کي کښته سو دوه رکعته لمونځ يې وکړي خپل براق يې دمسجد ددراوزې سره وتړی . بيا رسول اللهr لومړی اسمان ته ولاړی داسمان ددروازې دخلاصولو لپاره جبرائيل (عليه السلام) ملائکوته وويل : چي محمدr راسره دی دروازه ورته خلاصه سوه رسول اللهr آدم (عليه السلام) وليدی سلام يې ورته ووايه آدم (عليه السلام) جواب ورکړی ، ښه راغلاست يې ورته ووايه اودرسول اللهr دنبوت اقرار يې وکړی . اللهY ورسول اللهr ته دآدم (عليه السلام) راسته لوري ته نېک مرغه انسانان وښودل اوچپه لوري ته يې بدبخته انسانان وښودل .بيا رسول اللهr دوهم اسمان ته ولاړی دروازه ورته خلاصه سوه په دوهم اسمان کي يې يحيي (عليه السلام) اوعيسي (عليه السلام) وليده سلام يې ورته ووايه هغوي جواب ورکړی ،مبارکي يې ورته وويل اودده مبارک دنبوت اقراريې وکړی .بيا رسول اللهr دريم اسمان ته ولاړی هلته يې يوسف (عليه السلام) وليدی سلام يې ورته ووايه هغه جواب

ورکړی ، مبارکي يې ورکړه اودده مبارک دنبوت اقرار يې وکړی . بيارسول اللهr ځلورم اسمان ته وختی هلته يې ادريس (عليه السلام) وليدی سلام يې ورته ووايه ،هغه جواب ورکړی ښه راغلاست يې ورته ووايه اودنبوت اقرار يې وکړی . بيارسول اللهr پنځم اسمان ته وختی هلته يې هارون (عليه السلام) وليدی سلام يې ورته ووايه هغه جواب ورکړی ، ښه راغلاست يې ورته ووايه اودده مبارک دنبوت اقرار يې وکړی .بيارسول اللهr شپږم اسمان ته وختی هلته يې موسی (عليه السلام) وليدی سلام يې ورته ووايه موسی (عليه السلام) جواب ورکړی ، ښه راغلاست يې ورته ووايه اودده مبارک دنبوت اقرار يې وکړی . کله چي رسول اللهr دموسي (عليه السلام) څخه روانيدی موسي (عليه السلام) وژړل رسول اللهr پوښتنه ځني وکړه چي ولي دي وژړل ؟ موسي(عليه السلام) ورته وويل پردې مي وژړل چي يوځوان چي ترماوروسته پيغمبرسوی دی اوامتيان به يې زماترامتيانوډېر وجنت ته ولاړسي .بيارسول اللهr اوم اسمان ته وختی په اوم اسمان کي يې ابراهيم (عليه السلام) وليدی سلام يې ورته ووايه ابراهيم(عليه السلام) جواب ورکړی مبارکي يې ورته وويل اودده مبارک په نبوت يې اقرار وکړی . تردې وروسته رسول اللهr سدرة المنتهي ته بوتلل سو بيارسول اللهr ته بيت المعمور ښکاره سو وروسته داللهr دربار ته ورسول سو اللهY ته دومره نژدې سو لکه دوې ليندۍ چي سره نژدې وي اوياتردغه هم لږ فاصله وه بيا اللهY چي څه وحي رسول اللهr ته کولي هغه وحي يې ورته وکړي پنځوس لمونځونه يې پرې فرض کړه وروسته رسول اللهr بېرته راوګرځيدی کله چي ترموسی(عليه السلام) تېريدی موسی(عليه السلام) پوښتنه ځني وکړه چي اللهY څه امر درته وکړی ؟ رسول اللهr ورته وفرمايل چي اللهY پنځوس لمونځونه راباندي فرض کړه موسی(عليه السلام) ورته وويل : چي بېرته ولاړسه داللهY څخه ددغه لمونځو دلږوالي غوښتنه وکړه ستاامت ددومره لمنځو توان نلري رسول اللهr وجبرائيل (عليه السلام) ته وکتل جبرائيل(عليه السلام) اشاره ورته وکړه يعنی داچي که ته غواړی کيدلای سي رسول اللهr بېرته دخپل بادار ودربارته ورسول سو اوخواست يې ورته وکړی . بخاري په يوروايت چي اللهY لس لمونځونه ورکم کړل رسول اللهr چي بېرته

راوګرځيدی موسی(عليه السلام) يې خبر کړی موسی (عليه السلام)بيا مشوره ورکړه چې داللهY څخه دلړوالي غوښتنه وکړه ستاامت ددومره لمونځوتوان نه لری بيارسول اللهr ولاړی لنډه داچې آخر پنځه لمونځونه پاته سوه بياهم موسی(عليه السلام) ورته وويل چې داللهY څخه دلږوالي غوښتنه وکړه خورسول اللهr ورته وويل چې داللهY څخه شرمېږم زه ددغه لمونځو په کولوکي اللهY ته تسليم يم اوسرورته کښته کوم .رسول اللهr چې څه ليري سو يواوازپيدي ډول وسو: ماخپله فريضه نافذه کړه اوپرخپلو بندګانو مي دلمونځو کموالی وکړی [۱۰۷]

همداډول رسول اللهr پدغه شپه نوري حيرانونکي پېښې وليدی دبيلګي په ډول رسول اللهr هغه کسان وليده چې په دنيا کي ديتيمانو مالونه په ظلم سره خوري شونډان يې داوښانوپه څېروه داور سکروټي يې په خوله چيخلي اوتر دبره (دمرداری وتلو) ترځاي وتلی .رسول اللهr سود خوړونکی وليده چې نسونه يې دومره لوي وه لکه خوني . رسول اللهr هغه ښځې وليدي چې مړونه لري اوزناکوي په سينوکي يې لوي لوي کاږه اغزي چيخل سوي وه اود اسمان اومځکي ترمنځ ځړيدلي .[۱۰۸]

والله اعلم باالصواب وعنده ام الکتاب

*******

دجمعې ورځ

حضرت عبدالله بن عباس (رضي الله عنهما) درسول اللهr څخه روايت کوي چې اللهY دجمعې په شپه وټولو مسلمانانو ته مغفرت کوي يعني که دوي يې وغواړي [۱۰۹]

حضرت شيخ عبد القادرجيلاني (رحمة الله عليه) په غنيه کښي ليکي : ځيني علماء پدې آند دي چې دجمعې شپه دقدر ترشپې بهتره ده ځکه دجمعې شپه

تکرارېږي چي دټوله کال دجمعې شپې سره راجمعه کړي دقدر ترشپې يې ثواب زياتيږي .[۱۱۰]

په يو روايت کښي دحضرت امام احمد رحمة الله عليه څخه سوي دي چي رسول اللهr فرمايلي دي : خبر اوسي ايا زه تاسو په دوو زيرو خبرنه کړم چي ماته جبرئيل (عليه السلام) راوړي دي؟اصحابو کرامو وويل زيري راکړه يارسول الله ! رسول اللهr وفرمايل : ماته جبرئيل (عليه السلام) زيري راکړئ چي اللهY دجمعې په هره شپه اويازره خلگ ددوزخ داور څخه خلاصوي . دوهم دادی چي اللهY هره دجمعي شپه زما امت ته نهه نوي واره په نظر درحمت گوري .[۱۱۱]

حضرت علي y ويلي دي : کوم وخت چي به دجمعې شپه راغله رسول اللهr به ويل ښه راغلاست دي وي هغه شپي لره چي ازادوونکي ددوزخ ده او راوستونکي دمغفرت ده هغه چالره دي خوشالي وي چي په دې شپه کښي نيک کار وکړي هلاکت دي وي هغه چالره چي په دي شپه کښي گناه وکړي [۱۱۲]

حضرت ابوهريرهy درسول اللهr څخه روايت کوي چي رسول اللهr فرمايي : اللهY ورځي پيداکړي دجمعې ورځ يې پکښي غوره کړه زما امت يې پر نور امتونو دجمعې د ورځي په وجه غوره کړی که څوك دجمعې په ورځ يو نيك کار وکړي اللهY به اويا نيکۍ ورته وليکي که څوك دجمعې په ورځ مړسي اللهY به تېر گناهونه ور وبخښي او ددنيا څخه به بخښل سوي ولاړسي .[۱۱۳]

حضرت جابرy درسول اللهr څخه روايت کوي چي رسول اللهr فرمايي : څوك چي دجمعې په ورځ يا شپه مړسي اللهY به يې دقيامت په ورځ دعذابه څخه وساتي او دشهيدانو ټاپه به باندي ووهي يعني درجه به دشهيدانو ورکړي [۱۱۴]

حضرت عبد الله بن عمر (رضي الله عنهما) درسول اللهr څخه روايت کړي دی چي رسول اللهr فرمايي: څوك چي دجمعې په ورځ ترلمرلويدو وروسته دوه رکعته نفل وکړي په هر رکعت کښي يوار #$Jysø9ô‰ß ¬! اوپنځلس واره #$}sŒÎ) ÏMs9Ì“ø9ã— ÞÚö‘F# سورة ووايي اللهY به دځنکندن تکليف باندي اسانه کړي ، دقبر دعذاب څخه به يې وساتي او داويا کالو دعبادت

ثواب به ورکړي .[۱۱۵]

حضرت عبد الله بن عباس (رضي الله عنهما) درسول اللهr څخه روایت کړي دی چي رسول اللهr فرمايي: څوك چي دجمعې په ورځ دامام تر راوتو مخکي لس رکعته نفل وکړي په هر رکعت کښي يو ځل #$ß‰ôJysø9 ¬! لس ځله قل هوالله وروسته بیا سبحان الله والحمدلله ولااله الاالله والله اکبر ولاحول ولاقوة الا بالله العلي العظیم ووايي هرخواست چي اللهY ته وکړي اللهY به يې قبول کړي .[۱۱۶]

حضرت عليy درسول اللهr څخه روایت کړي دی چي رسول اللهr فرمايي: څوك چي دجمعې په ورځ دڅاښت په وخت کښي دوه رکعته نفل وکړي اللهY به سل نیکۍ ورته ولیکي اوسل ګناوي به ځني محوه کړي ، څوك چي څلور رکعته نفل وکړي اللهY به په جنت کښي څلورسوه درجې ورلوړي کړي ، څوك چي اته رکعته نفل وکړي اللهY به يې اته سوه درجې ورلوړي کړي اوټول ګناهونه به وروبخښي ، څوك چي دوولس رکعته نفل وکړي اللهY به دوولس سوه نیکۍ ورته ولیکي اودو ولس سوه درجې به يې ورلوړي کـــــــــــړي .[۱۱۷]

****

والله اعلم بالصواب

دولسمه

دولسمه هغه مبارکه ورځ ده چي دنړۍ تر ټولو وړانګین اوسپین سحرحضرت محمدr دالله‌Y په لوي قدرت پر نړۍ سترګي روڼي کړي او په همدې ورځ يې د نړۍ څخه سترګي پوټي کړي .

یادونه : ریښتیا هم داورځ دستايني وړ ده ځکه اللهY دغه ورځ درسول الله (صلي الله علیه وسلم) دپیدائښت اووفات لپاره وټاکل خو ځيني خلګ پدې ورځ کي خیراتونه کوي ددغه ورځي پدغه ډول لمانځل درسول الله(صلي الله علیه وسلم) داصحابوکرامو اومخورو علماؤ څخه هیڅ ثبوت نه دی راغلی .

داچي درسول اللهr پيدائښت په دې ورځ څنګه وسو او وفات يې څنګه وسو يو لږ بيان يې تر بحث لاندي نيسو

درسول rپيدائښت

رسول اللهr پر۲۲ داپريل د (۵۷۱ م) سنې ددوشنبې په ورځ دلومړۍ خور پردولسمه نېټه پيداسو.[۱۱۸]

روضة الافکار دحضرت سهلt څخه روايت کوي : کله چي اللهY درسولY دپيدائښت اراده وکړه ورضوان ملائکي ته چي دجنت سرپرسته ده امر وکړي چي دجنت فردوس دروازې خلاصي کړي ، په اسمانوکښې يو چا ږغ وکړي : خبر اوسي دااللهY نور چي پټ وو او خزانه وو نن شپه د بي بي امينې (رضي الله عنها) په نس کښې قرار پيداکړي . حسان بن ثابتy وايي : زه اوه کلن هلك وم په دغه شپه يو يهودي عالم ږغ وکړي او وي ويل: اې ديهودو قومه ! بيشکه نن شپه ستوري دمحمداخرزمانr راوختی.[۱۱۹]

درسولr مبارکه مور بي بي امينه (رضي الله عنها) وايي : زه د خپل زوي حضرت محمدrپه حمل هيڅ نه پوهيدم ځکه ما هيڅ تکليف او دروندوالي دحمل نه ليدي لکه نوري حمل داري ښځي کله چي زماڅخه حضرت محمدr جلاسو ما يو نور وليدي چي دمشرق اومغرب منځ يې روښانه کړي ؤ او مايې په روښانايي کښې دشام ماڼۍ وليدي . [۱۲۰]

بي بي امينه وايي : زما دحمل په لومړي مياشت يوه اوږد سړي راته وويل : زيري درکوم سردار دټولو رسولانو دي په نس دي ما ورته وويل ته څوك يې ؟ ده راته وويل زه يې پلار ادم عليه السلام يم ، په دوهمه مياشت کښې بل سړي راته وويل زيري درکوم سيدالاولين والاخرين پيغمبر دي په نس دي ما ورته وويل ته څوك يې ؟ ده راته وويل زه شيث عليه السلام يم ، په دريمه مياشت کښې بل سړي راته وويل زيري درکوم نبي کريمr دي په نس دي ما ورته وويل ته څوك يې ؟ ده راته وويل زه نوح (عليه السلام) يم ، په څلورمه مياشت بل

سړي راته وويل زيري درکوم سردار دشرافت اوپاك نبي دي په نس دي ماورته وويل ته څوك يي ؟ ده راته وويل زه ادريس (عليه السلام) يم ، په پنځمه مياشت مي بل سړی وليدي راته وي ويل زيري درکوم دټوله بشريت سردار دي په نس دي ماورته وويل ته څوك يي ؟ده راته وويل زه هود (عليه السلام) يم ، په شپږمه مياشت بل سړي راته وويل زيري درکوم نبي هاشمي دي په نس دي ما ورته وويل ته څوك يي ؟ ده راته وويل زه ابراهيم خليل الله يم ، په اومه مياشت بل سړي راته وويل زيري درکوم درب العالمين قبلونکي دي په نس دي ماورته وويل ته څوك يي ؟ده راته وويل زه اسماعيل (عليه السلام) يم ، په دغه مياشت کښي دکسرامانۍ دوې دروازې راولويدي چي په خپل وخت کښي يې جوړه نه درلوده . بي بي امينه وايي په اتمه مياشت کښي بل سړي راته وويل زيري درکوم خاتم النبيين پيغبردي په نس دي ماورته وويل ته څوك يي ؟ ده راته وويل زه موسي (عليه السلام) يم ، پدې مياشت کښي دفارس تاريخي اور ارام اوغلي سو لمبې يې کمزوري سوي ، په نهمه مياشت بل سړي راته وويل زيري درکوم محمدr دي په نس دي ماورته وويل ته څوك يي ؟ ده راته وويل زه عيسي (عليه السلام) يم ، پدې مياشت کښي دکسري دپاچا دسرڅخه تاج ولويدي .[١٢١]

درسول اللهr دحمل په څلورمه مياشت دده مبارك پنځويشت کلن پلارعبدالله وفات سو په مدينه منوره کښي خاورته وسپارل سو ترشا يې پنځه اوښان څه پسونه اويوه مينځه پاته سوه چي دايمن مور وه اونوم يې برکه (رضي الله عنها) وو درسول اللهr تربيه يې کړي ده. کله چي درسول اللهr پلار عبدالله وفات سو نوملائکو وژړل اووي ويل اې خدايه ! ستا نازولي پيغبريتيم پاته سو اللهY ورته وويل : زه يې ساتونکي ، پالونکي اومرسته کونکی يم .بي بي امينې (رضي الله عنها) ويلي دي : هرکله چي دمحمدr دپيدائښت شپه سوه چي ددوشنبې شپه اودسهاردسپېدو وخت وو يوه ډله راغله داسمانه څخه يې درې بيرغونه راکښته کړه يو بيرغ يې دمکي مکرمي پر بام ودراوه يو بيرغ يې پر بيت المقدس ودراوه اويو بيرغ يې زما پرکور ودراوه ستوري ماته داسي نژدې سوه مابه ويل اوس به پرما راولويږي داسمان دروازې خلاصي سوي

دنیا ټوله دنورڅخه ډکه سوه وروسته مرغان راکښته سوه زماپرکور چاپېره سوه چي موشکي يې دزبرجدوڅخه وي او وزرونه يې دياقوتو څخه وه .
صاحب الشفاء ليکي : دعبدالرحمن بن عوف (رضي الله عنهما) مور وايي : چي رسول اللهr زما پرلاس پيداسو کوم وخت چي پيدا سوداسي ناره يې وکړه : رحمك الله : وروسته داسي روښنايي سوه چي دمشرق اومغرب منځ يې ټوله ونيوي . امينه (رضي الله عنها) وايي : کوم وخت چي محمدr زما څخه جلاسو لومړی يې پښې پيداسوي بيا يې سر پيداسو يعني دنورو کوچنيانو پر عکس باندي بيا يې په ښه روښانه الفاظو وويل :
((اَللهُ اَکْبَرْ اَللهُ اَکْبَرْ اَللهُ اَکْبَر اَلْحَمْدُ لِلهِ رَب الْعَالَمِيْن))[۱۲۲] عکرمهy ويلي دي : عبدالله بن عباس (رضي الله عنهما) دخپل پلارعباسy څخه روايت کوي عباسy بيا روايت دخپل پلار عبد المطلب څخه کوي چي ويلي يې دي : رسول اللهr چي پيداسو سنت سوي وو او نوه يې پرې سوي وو .[۱۲۳]
*****

درسول اللهr وسلم وفات
اصحابوکرامو (رضي الله عنهم )ته ترټولو لوي غم درسول اللهr جلاوالي وو همدا بيلتون وو چي ددوي دزړه دنيا يې ورانه کړه .
رسول اللهr چي پر څلويښت کلنۍ پيغمبر سو ديارلس کاله يې په مکه مکرمه کښي تېر کړه لس کاله يې په مدينه منوره کښي تېرکړل ددروشپېتم کال دپوره کيدو په بهير کي درسول اللهr څخه درخصتېدو نښي ښکاريدي . دبخاري په يوه روايت کي راغلي دي چي رسول اللهr به نور کلونه لس ورځي په روژه کي اعتکاف کاوه په دغه کال يې شل ورځي اعتکاف وکړی همداډول رسول اللهr به نورکلونه دروژې په مياشت کي يوځل جبرائيل(عليه السلام) ته قرآنکريم تېراوه په دغه کال يې دوه ځله قرآنکريم تېرکړی .درسول اللهr درخصتېدوبله

ننبه داوه چي رسول اللهr په وروستی حج چي (حجة الوداع) ورته وايي واصحابوکرامو ته وفرمايل : ښايي چي بياپدې ځاي کي ستاسو سره يوځاي نه يم . (دجمرې عقبې) سره رسول اللهr وفرمايل : تاسو زماڅخه دحج احکام ازده کړی زه په بل حج کي غالبا ستاسو سره نه يم . بيا په رسول اللهr باندي ددغه کال دلوي اخترپه شپوکي سورة نصرنازل سو رسول اللهr پوه سو چي اوس نوددنيا څخه دروانيدو وخت اودا دمرګ خبردی .همداډول رسول اللهr ديوولسم کال دصفري دمياشتي په لومړيوکي داحد شهيدانو ته ورغلي اودهغوي لپاره يې دعا وغوښتل بيارسول اللهr راغلی پرمنبرباندي يې اصحابوکراموته وفرمايل : زه ستاسو دکاروان اميريم. په اللهY قسم يادوم چي خپل حوض (کوثر) وينم . ماته دمځکي اودمځکي دخزانو کيلۍ راکړل سوي دي .په اللهY قسم يادوم چي زماسره داوېره نسته چي تاسوبه زماڅخه وروسته شرک وکړی بلکي زماسره داوېره ده چي تاسوبه ددنياپه لټه کي يودبل سره مقابلې وکړی.[۱۲۴]

رسول اللهr پر نهه ويشتمه دصفري دمياشتي ديوولسم هجري کال ديوې جنازي سره دمدېني منوري وهديرې ته تشريف يووړی دهغې خواڅخه دراتګ پرمهال يې پر سر درد شروع سو . ګرمي (تبه) هم دومره زياته ورسره وه چي دسر دتړلي پټۍ سرببره هم دغه تودوالی محسوسيدی . رسول اللهr ددغه ناروغۍ څخه وروسته يوولس ورځي لمونځ ورکړی درسول اللهr ټوله ناروغي ديارلس اويا څوارلس ورځي وه دناروغۍ لومړۍ ورځ يې دوشنبه وه اخيره ورځ يې هم دوشنبه وه .

درسول اللهr طبيعت ورځ تربلي پردرنېدو وو کله چي درسول اللهr دژوندانه وروستی اونۍ سوه دخپلو بيبيانو څخه يې پوښتنه وکړه چي صبا به زه چيري يم يعني دکومي بي بي واری دی بيبياني درسول اللهr په مقصد پوه سوي دوی مبارکانو ورته وويل کوم ځاي چي ستاخوښ وي هلته واوسه رسول اللهr دبي بي عائشې (رضي الله عنها) خونه غوره کړه رسول اللهr دحضرت فضل بن عباس y اوحضرت علي y په منځ کي چي پښې مبارکي يې پرمځکه ښکېدلي دبي بي عائشې (رضي الله عنها) وخوني ته يې تشريف يووړی دژوند وروستی

اونۍ يې پدغه خونه کي تېره کړه . بي بي عائشې(رضي الله عنها) ö@è%
ö@è% èŒqããr& Éb>tÎ/)او( èŒqããr& Éb>tÎ/ È,n=xÿø9$#
Ä•$•Y9$#) سورتونه درسول اللهr څخه يادکړی وه هغه به يې پر رسول اللهr
باندي ددم په ډول ويل. درسول اللهr دوفات څخه پنځه ورځي مخکي
دچهارشنبې په ورځ درسول اللهr په بدن مبارک کي ګرمي زياته سوه چي له
امله يې تکليف نورهم زيات سواوبي هوښي پرې راغله رسول اللهr وفرمايل :
تاسو دمختلفو څاهانو (کوهيانو) اوبه پرما توي کړی چي زه وخلګوته وصيت
وکړم درسول اللهr ددغه غوښتني دپوره کولو لپاره يوه تالۍ (لګن) کښېښودل
سواوپررسول اللهr باندي ترهغه وخته اوبه واچول سوي چي ده مبارک بس
وفرمايه . وروسته پررسول اللهr باندي يوڅه سپکوالی راغلی مسجد ته يې
تشريف يووړی منبرته يې ورغلی خطبه يې په ناسته وويل اصحاب کرام پرې
راټول سوه رسول اللهr وفرمايل :پريهود اونصاراوو دی داللهY لعنت وي
دخپلو انبياؤ(عليهم السلام) قبرونه يې مسجدونه کړل تاسو زما قبربت مه
جوړوی چي عبادت يې وکړل سي .[۱۲۵]

بيارسول اللهr دبدلې اخستلو لپاره ځان وړاندي کړی اووي فرمايل : که
ماڅوک پرشاوهلی وي نورادي سي مادي پرشاووهي اوکه ماڅوک پرمخ
وهلی رادي سي مادي پرمخ ووهي . وروسته رسول اللهr راکښته سو دماپښين
لمونځ يې ورکړی بيا رسول اللهr منبرته وختی خپلی وروستی خبري يې
بياوکړی بيايوچاوويل چي يارسول الله ! ستاپرذمه درې درهمه پاته دي رسول
اللهr وفضل بن عباسy ته وويل چي هغه درې درهمه ورکړی بيارسول اللهr
دانصارو په اړه وصيت وکړی اووي فرمايل: زه تاسوته دانصاروپه اړه وصيت
کوم ځکه هغوي زمازړه اوزمائيګردي هغوي خپل مسؤليت پوره کړی دی
خوددوي حق پاته دی تاسو ددوي نيک کارونه قبول کړی اوددوی پرخطاوو
باندي درګذروکړی .[۱۲۶]

درسول اللهr تروفات څلور ورځي مخکي دپنځشنبې په ورځ درسول اللهr
تکليف زيات سو رسول اللهr وفرمايل : تاسو يوکاغذ راوړی چي زه يوشي
درواليکم چي بيا به ستاسو په منځ کي اختلاف نه پيداکيږي . پدغه وخت کي

درسول اللهr په کورکي څوکسان وه چي يويې عمرy وو ده مبارک وويل پررسول اللهr باندي تکليف زيات دی کاغذ ته اړتيا نسته زموږ په منځ کي قرآيکريم سته دغه قرآن زموږ لپاره بسنه کوي . پدغه حالت کي داصحابو کرامو په منځ کي اختلاف پيداسو چاويل کاغذ راوړو چي رسول اللهr ليکل پرې وکړي چابه ويل چي عمرy څه وايي هغه خبره صحيح ده آخرددوي ږغ پورته سو شورجوړ سو نو رسول اللهr ورته وويل ځئ ولاړسئ .[۱۲۷]

پدغه ورځ درسول اللهr دزياتي ناروغی سره بياهم رسول اللهr دمابنام لمونځ ورکړی او(والمرسلات غرقا) سورة يې پکښي ولوستی [۱۲۸]

خودماختسن لمونځ يې ورنکړی ځکه رسول اللهr څوځله وغوښتل چي ولاړسي خوبيرته به بېهوښي پرې راغله آخر يې وحضرت ابوبکرy ته خبرورکړی چي لمونځ ورکړی .[۱۲۹] درسول اللهr دوفات څخه يوه يادوې ورځې مخکي يعني دشنبي يايکشنبې په ورځ درسول اللهr په طبيعت کي يوڅه هوسايي محسوس سوه نورسول اللهr ددوو کسانو په منځ کي دماپښين لمانځه لپاره مسجد ته ولاړی پدغه وخت کي ابوبکرy وخلگوته لمونځ ورکاوه ابوبکرy چي رسول اللهr وليدی نو راشاته کيدی رسول اللهr اشاره ورته وکړه چي مه شاته کيږه راوستونکوته يې وويل چي دابوبکرy راسته لوري ته مي کښېنوی نوابوبکرy درسول اللهr اقتدا کول اوپه اصحابوبه يې تکبير اوروی .[۱۳۰]

ديکشنبې په ورځ رسول اللهr خپل ټول مريان ازاد کړل اوه ديناره ورسره وه هغه يې خيرات کړه ددغه شپې دڅراغ بلولو لپاره بي بي عائشې (رضي الله عنها) دهمسايه څخه تيل په پور واخستل .درسول اللهr دژوندانه دوروستی ورځې په اړه انسy فرمايي : کله چي ددوشنبې په ورځ اصحابوکرامو دسهارلمونځ کاوه رسول اللهr ناڅاپه دحجرې پرده پورته کړه اصحاب کرام په صفونوکي په لمانځه اخته وه رسول اللهr مسکی سو ابوبکرy پدې فکرسوچي رسول اللهr لمانځه کولوته تشريف راوړی دی دشاته کيدوهڅه يې وکړه انسy زياتوي چي اصحاب کرام درسول اللهr په ليدوسره دومره خوشاله سوه چي نژدې وو چي لمونځ مات کړي خورسول اللهr په خپل لاس مبارک سره اشاره ورته وکړه چي خپل لمونځ پوره کړی بيا حجرې ته ننوتی [۱۳۱]

کله چي غرمه سوه رسول اللهr خپله لور بي بي فاطمه (رضي الله عنها) راوغوښتل په غوږ کي يې خبره ورته وکړه دې مبارکي وژړل بيايې بله خبره ورته وکړه دې مبارکي وخندل .بي بي عائشة (رضي الله عنها) وايي چي وروسته موږ دبي بي فاطمې څخه پوښتنه وکړه چي رسول اللهr څه درته وويل ؟ دې مبارکي په جواب کي راته وويل چي لومړی ځل رسول اللهr راته وويل چي زه پدغه ناروغۍ کي وفات کيږم ماوژړل بيارسول اللهr په غوږ کي راته وويل چي زما په کورنۍ کي به لومړۍ ته په ماپسي راسي يعني ترټولومخکي به ته وفات سي نوماوخندل [۱۳۲]

دبله پلوه درسول اللهr تکليف آن په آن زياتيدی دهغه زهرو اغيزې ښکاره سوي چي په رسول اللهr باندي په خيبرکي خوړل سوي وه بيا رسول اللهr وفرمايل : اې عائشې ! دهغه زهرو اثرمحسوسوم چي په مابادي په خيبر کي خوړل سوي وه اوددې اثرڅخه زما دسا رګ پرېکيږي.[۱۳۳]

درسول اللهr تکليف زياتيدی آن چي درسول اللهr ځنکدن پيل سو بي بي عائشة(رضي الله عنها) فرمايي : چي ما رسول اللهr ته پرخپل ځان تکيه ورکړې وه دامبارکه زياتوی چي زمالپاره لوي افتخار دادی چي رسول اللهr زما په خونه ، زماپه غيږ اوزما دوار په ورځ وفات سو. اواللهY درسول اللهr دوفات په وخت کي زما اودده نارې سره يوځاي کړې .دامبارکه زياتوي چي عبدالرحمان بن ابوبکر(رضي الله عنهما) راغلی په لاس کي يې مسواک وو رسول اللهr مسواک ته کتل زه پوه سوم چي رسول اللهr مسواک غواړي مارسول اللهr ته وويل : ستالپاره مسواک ځني واخلم ؟ رسول اللهr دسرپه ښورولوسره دهواشاره راته وکړه مادعبدالرحمانy څخه مسواک واخستی رسول اللهr ته مي ورکړې خورسول اللهr ته هغه مسواک سخت محسوس سوبيا ماورته وويل دغه مسواک ستا لپاره نرم کړم ؟ رسول اللهr بيا دهو اشاره راته وکړه ما مسواک نرم کړې رسول اللهr ته مي ورکړې رسول اللهr په ښه ډول سره مسواک وواهه . درسول اللهr ومخ ته په يوه ټکوري کي اوبه وي رسول اللهr په هغه ټکوري کي لاس واچوي اوبه يې راواخستي پرمخ مبارک يې تېري کړې بيايې وفرمايل : (لااله الاالله ) مرګ ډېري سختۍ لري .[۱۳۴]

بي بي عائشة (رضي الله عنها) فرمايي : چي رسول اللهr دمسواک ترفراغت وروسته لوړ لوري ته وکتل اوشونډان يې ښورول يوڅه يې ويل ماچي غوږ ورنژدې کړی رسول اللهr داسي ويل : اې خدايه ! تا په خپل انعام سره انبياء ، صديقين ، شهداءاوصالحين ونازول اې اللهY ! ماوبخښي ، پرمارحم وکړي اومارفيق اعلي ته ورسوي . رسول اللهr وروستی جمله درې ځلي وويل لاس يې کښته سو او درفيق اعلي سره ودې ظاهري ژوند ته دپاي ټکی کښيښنودی ((انا لله وانا اليه راجعون)).[١٣٥]

اگردنيا تاقيامت زنده بـــــــــــودي

ابوقاسم محمدr تاقيامت زنده بـــــــــودي

روضة الافکارليکي : (جبرئيل عليه السلام) ، دمرگ ملائکه ، يوه بله ملائکه چي اسمعيل نوميده او اويا زره ملائکي ورسره وي پر رسول اللهr يې سلام ووايه جبرئيل (عليه السلام) ورته وويل : يارسول الله جنتونه ټوله برابرسوي دي دروازې يې خلاصي دي دجنت حوري ښائسته سوي دي ايا ته غواړي چي ستا قبر دي ترعرش لاندي يا په جنت کښي سي ؟ رسول اللهr دخپل امت سره يوځاي والي غوره کړي . کوم وخت چي درسول اللهr روح دبدن مبارك څخه وواتي يو ډول خوشبويي پورته سوه ، بي بي عائشه (رضي الله عنها) وايي کله چي درسول اللهr سپېڅلی روح وواته ما تراوسه داسي خوشبويي نه وه ليدلي ، ورسته په مدينه منوره کښي يوډول تياره وغوړيده دډېره غمه څخه اصحابو کرامو به ځينو دځينوسره نه ليده ځيني يې شلان سوه ځيني يې گونگيان سوه ځيني سخت ناروغان سوه.

دډيرواختلافونوڅخه وروسته دحضرت ابوبکرصديقY سره بايعت وسو بيا نودرسول اللهr په تکفين اوتجهيز (دښخيدومراسم ) باندي يې شروع وکړه حضرت عليY په يخو اوبوسره غسل ورکړی حضرت عباسY اودهغه زوي فضلY او اسامه بن زيدY ورسره وه او اوبه يې ورتويولي بيا يې په دروسپينو جامو کښي کفن ورکړي وروسته خلگوداامامت پرته جلا جلا لمونځ ورکړی ، وروسته ښځو اوبيا کوچنيانو لمونځ پرې وکړی ، حضرت طلحةY لحد ورته وکښي پرکوم ځاي چي يې وفات کړی وو پرهغه ځاي يې د چهارشنبې په ورځ

دفن کړی په یوه بل روایت کښي راغلي دي چي د سه شنبې په ورځ یې ښخ کړي . داچي رسول اللهr ددوشنبې په ورځ وفات کړي وو اودسه شنبې یا چهارشنبې په ورځ دفن سو دځنه لامل یې داصحابو کرامو دزیاته غمه اختلاف وو. سفیان سوري y وایي : څوك چي دروشپېته کلنۍ ته ورسیږي دځان لپاره دي کفن برابرکړي ځکه رسول اللهrپه درشپېته کلنۍ کښي وفات کړي دي .[۱۳۶]

*****

والله اعلم بالصواب
تمّت ۲۸ – ۳ – ۱۳۸۵ من هجري شمسي

مآخذونه

[1] نزهة المجالس صفحه (۱۲۵)
[2] ذکره نسفی .
[3] نزهة المجالس صفحه (۱۲۵)
[4] نزهة المجالس صفحه (۱۲۵)
[5] نزهة المجالس صفحه (۱۲۷)
[6] نزهة المجالس صفحه (۱۲۸)
[7] نزهة المجالس صفحه (۱۲۹)
[8] نزهة المجالس صفحه (۱۷۰)
[9] نزهة المجالس صفحه (۱۷۰)
[10] وفي روایة : کان یصوم شعبان الاقلیلا .متفق علیه .صحیح بخاري کتاب الصوم باب صوم شعبان . وصحیح مسلم کتاب الصیام باب الصوم النبيr في غیر رمضان .
[11] نزهة المجالس صفحه (۱۷۰)
[12] رواه ابن ماجة .
[13] نزهة المجالس صفحه (۱۷۰)
[14] نزهة المجالس صفحه (۱۷۰)

[*] نزهة المجالس : جلد : اول ، صفحه : ۱۶۳.

[16] رواه ابن ماجة والترمذي وزاد زرين ممن استحق النار.

[17] رواه البيهقي في الدعوات الكبير

[18] رواه ابن ماجة عن ابي موسى اشعري y ورواه احمد عن عبدالله بن عمرو بن عاص y وفي رواية الاثنين مشاحن وقاتل النفس.

[19] سورة بقرة الاية (۱۸۳)

[20] رواه ابن خزيمة في صحيحه ثم قال صح الخبر ورواه من طريقه البيهقي ورواه ابو الشيخ بن حيان في الثواب باختصار عنهما وفي اسانيدهم علي بن زيد جدعان ورواه ابن خزيمة ايضا والبيهقي باختصار عنه من حديث ابي هريرةy وفي اسناده كثير بن زيد كذا في الترغيب صفحه (۲۰۳)

[21] نزهة المجالس صفحه (۱۲۷)

[22] رواه احمد والبزاز والبيهقي ورواه ابوالشيخ بن حيان في كتاب الثواب الاان عنده : ((وتسغفر لهم الملآئكة)) بدل الحيتان كذا في الترغيب.

[23] نزهة المجالس صفحه (۱۲۸)

[24] رواه البزاز كذا في الترغيب

[25] رواه احمد في حديث والترمذي وحسنه وابن خزيمه وابن حبان في صحيحهما كذا في الترغيب

[26] نزهة المجالس صفحه (۱۲۹)

[27] رواه الطبراني ورواته ثقاة الاان محمد بن قيس لايحضرني في جرح ولاتعديل كذا في الترغيب.

[28] نزهة المجالس صفحه (۱۲۹)

[29] نزهة المجالس صفحه (۱۲۹)

[30] نزهة المجالس صفحه (۱۲۹)

[31] نزهة المجالس صفحه (۱۲۹)

[32] نزهة المجالس صفحه (۱۲۹)

[33] نزهة المجالس صفحه (۱۲۹)

[34] نزهة المجالس صفحه (۱۲۹)

[35] نزهة المجالس صفحه (١٢٩)

[36] فضائل رمضان صفحه (٢٧)

[37] ابوداؤد والنسآئي

[38] نزهة المجالس صفحه (١٢٩)

[39] نزهة المجالس صفحه (١٢٩)

[40] رواه الطبراني في الاوسط وابن حبان في صحيحه كذا في الترغيب

[41] نزهة المجالس صفحه (١٢٩)

[42] ذكره ابو اليث سمرقندى .

[43] عجآئب المخلوقات

[44] نزهة المجالس ، الجلد (١) ، صفحه ١٦۶ .

[45] سورة القدر

[46] مشكوة عن البخاري .

[47] نزهة المجالس صفحه (١٧۴)

[48] نزهة المجالس صفحه (١٧۴)

[49] نزهة المجالس صفحه (١٧۴)

[50] نزهة المجالس ، الجلد (١)، صفحه ١٧٣ .

نزهة المجالس صفحه (١٧۴)

[51] نزهة المجالس صفحه (١٧۴)

[52] بخاري ومسلم كذا في الترغيب .

[53] نزهة المجالس صفحه (١٧۴)

[54] رواه ابن ماجة واسناده حسن انشآء الله تعالي كذا في الترغيب وفي المشكوة عنه (( كل محروم ))

[55] رواه احمد وابن ماجة والترمذي وصححه كذا في الشكوة .

[56] نزهة المجالس صفحه (١٧۴)

[57]ايضاً

[**]ايضاً

[59]ايضاً

[60] جامع البلاغ خطبة الفطر

[61] [61] جامع البلاغ جلد (٢) ، صفحه ٢١ .

[62] رواه البيهيقي في الشعب الايمان كذافي المشاة.

[63] ايضا . ونزهة المجالس جلد (١) صفحه (١٨٠)

[64] (جامع البلاغ جلد (٢)، صفحه ٢٢ .

[65] جامع البلاغ جلد (٢) ، صفحه ٢٢ .

[66] رواه مسلم عن ابي ايوب y باب استحباب صوم ستة ايام من شوال اتباعا لرمضان .

[67] رواه الترمذي وقال حديث حسن ، ابواب الصوم باب ماچآء في صوم يوم الاثنين والخميس . ومسلم بغير لفظ الصوم كتاب البر باب النهي عن الفحشآء والتهاجر.

[68] رواه مسلم كتاب الصيام باب استحباب صيام الثلثة ايام من كل شهر

[69] رواه الترمذي وقال حديث حسن ابواب الصوم ، باب ماجآء في الصوم يوم الاثنين والخميس.

[70] رواه الترمذي وقال حديث حسن ، ابواب الصوم ، باب ماجآء في صوم ثلثة ايام من كل شهر.

[71] رواه الترمذي كتاب الصيام باب في الصوم الثلاث من كل شهر .

[***] رواه النسآئي ، كتاب الصيام ، باب الصوم النبيr

[73] متفق عليه . صحيح بخاري كتاب التهجد ، باب صلوة الضحي . وصحيح مسلم كتاب صلوة المسافرين باب استحباب صلوة الضحي .

[74] صحيح مسلم كتاب صلوة المسافرين باب استحباب صلوة الضحي .

[75] متفق عليه . صحيح بخاري كتاب الصوم باب صوم داؤد (عليه السلام) . وصحيح مسلم كتاب الصيام باب استحباب صيام ثلثة ايام من كل شهر.

[76] صحيح مسلم كتاب الصيام باب استحباب صيام ثلثة ايام من كل شهر.

[77] نزهة المجالس صفحه (١٧٥)

[78] رواه مسلم ، كتاب الصيام باب استحباب صيام ثلاثة ايام من كل شهر وصوم يوم عرفة.

[79] نزهة المجالس صفحه (۱۷۵)

[80] رواه البخاري، كتاب العيدين باب فضل ايام التشريق

[81] رواه الترمذي وابن ماجة

[82] نزهة المجالس صفحه (۱۷۵)

[83] نزهة المجالس صفحه (۱۷۵)

[84] نزهة المجالس صفحه (۱۷۲)

[85] ایضاً

[86]ایضاً

[87] نزهة المجالس الجلد (۱)، صفحه ۱۷۴

[88] نزهة المجالس صفحه (۱۸۱)

[89] رواه الطبراني

[90] نزهة المجالس صفحه (۱۸۱)

[91] نزهة المجالس صفحه (۱۸۱)

[92] ایضاً

[93] تنبيه الغالفن صفحه (۳۱۱)

[94] تنبيه الغالفين صفحه (۳۱۱)

[95] رواه بهيقي ،

[96] نزهة المجالس الجلد (۱) ، صفحه ۱۸۱

[97] رواه مسلم ، كتاب الصيام باب استحباب صيام ثلاثة ايام من كل شهر وصوم يوم عرفة.

[98] نزهة المجالس الجلد (۱) صفحه (۱۵۹)

[99] نزهة المجالس الجلد (۱) صفحه (۱۵۹)

[100] ذكره الشيخ عبد القادرجيلاني رحمة الله عليه في الغنيه ،

[101] نزهة المجالس الجلد (۱) صفحه (۱۲۱)

[102]ایضاً

[103]ایضاً

[104]ایضاً

[105] نزهة المجالس الجلد (١) ، صفحه ١٥٩

[106] زاد الميعاد ٢--٤٩

[107] زاد الميعاد ٢---٤٨ ، ٤٧ بخاري جلد (١) صفحه (٤٥٥، ٤٧٠، ٤٥٢، ٤٧١ ٤٨١، ٥٥٠، ٥٤٩، ٥٤٨) ومسلم جلد (١) صفحه (٩١ الي ٩٢)

[108] بخاري مسلم .

[109] نــزهــة المجــالــس الجـلد (١) ، صفـــحه ١٣٤ .

[110] نــزهــة المجــالــس الجـلد (١) ، صفـــحه ١٣٥ .

[111] ايضاً

[112] رواه طبراني

[113] رواه طبراني

[114] نــزهــة المجــالــس الجـلد (١) ، صفـــحه ١٣٣ .

[115] ايضاً

[116] نــزهــة المجــالــس الجـلد (١) ، صفـــحه ١٣٣ .

[117] ايضاً

[118] تاريخ خضرمي جلد(١)صفحه (٢٢) رحمة للعالمين جلد(١) صفحه (٣٨، ٣٩)

[119] نزهة المجالس جلد (٢) ، صفحه ١٠

[120] السيرت لشيخ عبد الله صفحه (١٢)

[121] نزهة المجالس جلد (٢)، صفحه ١٤

[122] نزهة المجالس جلد (٢) ، صفحه ١٧٠

[123] تلفيح الفهوم صفحه (٤)

[124] متفق عليه .صحيح بخاري (٢---٥٨٥)

[125] صحيح بخاري (١--٢٢) مؤطاء امام مالک صفحه(٣٢٠) علي اختلاف الروايات .

[126] مشكوة (٢-٥٤٢) صحيح بخاري (١--٥١٢)

[127]متفق عليه-صحيح بخاري (١ ٤٢٩، ٢٢، ٤٤٩ ٢- ٢٣٨)

[128] صحیح بخاري باب مرض النبيr
[129] متفق علیه مشکوة (۱-- ۱۰۲)
[130] صحیح بخاري (۱ ۹۸، ۹۹)
[131] بخاري باب مرض النبيr
[132] بخاري (۲--۲۲۸)
[133] بخاري (۲--۲۳۷)
[134]نزهة المجالس الجلد (۲) صفحه (۱۷۰)
[135] صحیح بخاري (۲ ۲۳۸ الي ۲۴۱)
[136] نزهة المجالس الجلد (۲) ، صفحه ۱۷۰

## دلیکوال لنډه پیژندنه

---

د مولوي عبدالهادی حماد نور چاپ سوي کتابونه :

۱ - اړینه پوهه (لمړی ټوک)
۲ - لويي ګناوي د دوږخ لمبې
۳ - سپېڅلي ورځي [همدا اثر]
۴ - ربښتنی باور
۵ - د اسلامي نړۍ مظلومیت
۶ - شعري ټولګه
۷ - اړینه پوهه (دوهم ټوک)
۸ - ...

---

## پـــای

Download from:aghalibrary.com